محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# ۱۱۱

# محسن تفسیر

له قرآنه یو څرک

Ketabton.com

## ۱۱۱ـ د «مسد» سورت

ژباړه او څېړنه :

## احمد حسین «عنایت»

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مسد سورت تشریح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوراند او لورین الله په نامه

سورةالمسد

## د مسد سورة (۱۱۱)

سریزه: د «مسد» سورت مکي دی (۵) آیتونه یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱۱) په نزول کې (٦) سورت دی د «فاتحې» له سورة څخه وروسته نازل شوی دی. ددې سورة نوم «مسد» د هغه له پایاني آیت د پای له کلیمې څخه اخیستل شوی دی، سربېره پر دې نور نومونه هم ورته ذکر شوي دي لکه «تبّت» د سورت د لومړي آیت لومړۍ کلیمه، او همدا راز بل نوم یې «لهب» د دریم آیت له وروستۍ کلیمې څخه دی. ددې سورت په مکي والي کې د مفسرینو تر منځ هیڅ اختلاف نشته، خو البته په دې کې چې د مکې دور په کوم پړاو کې نازل شوی دی ټول مفسرین یوه خوله نه دي، او په دې توګه ستونزمن برېښي چې په سمه توګه وټاکل شي چې دا سورت د مکي دور په کوم مهال کې نازل شوی دی ــ البته د حضرت رسول اکرم او د هغه د بلنې پر خلاف چې ابولهب کوم دریځ او چلن درلود ددې په نظر کې نیولو سره دا اټکل کېدی شي چې ددې سورت نزول په هاغه زمانه کې شوی وو کوم مهال چې، هغه د رسول الله په دښمنۍ کې له بریده تیر شوی وو، او د هغه چلن او کړنې د اسلام په لار کې ستر خنډ جوړېده. حتا تر دې چې د هغه په توسه قریشو د حضرت رسول اکرم او د هغه له کورنۍ سره مقاطعه وکړه، او قریشو هغوی په شِعبِ ابي طالب کې ایسار او محصور کړي ول او د پیغمبر له کورنۍ څخه یوازې ابولهب داسې یو شخص وو چې د خپلې کورنۍ له وګړو سره یې پرېکون کړې وو او د پیغمبر له دښمنانو سره یې ملتیا کړې وه ــ ابولهب د حضرت رسول اکرم تره وو، او د وراره په ژبه د کاکا څرګنده غندنه تر هاغه مهاله مناسبه او شوني نه شوه تر څو چې د تره له بریده تیرې زیاتی په څرګنده توګه رامخته نه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## له مخکيني سورة سره اړيکه او د سورة د منځپانګې چورليځ:

د قرآن کريم د تلاوت په ترتيب کې د مسد [تبّت] له سورت څخه مخکينى سورة، د نصر سورة دى چې له دې مخکې مو ورته په مفصله توګه نغوته کړې ده؛ چې د نصر او تبّت دوه سورتونه، دوه اپوتې، متضادې او بېلې پايلې او انجامونه څرګندوي؛ يو له رنځ، کړاو، سختۍ، نښتېځنې او شکنجې سره پيل کېږي خو د ازمېښتونو په کوره کې له پخېدو، او فتنو څخه له تېرېدو وروسته په پاى کې الهي نصرت، فتحې او بريا ته رسېږي، او بل؛ سره له دې چې د قدرت، ځواک، ثروت او شتمنيو پر ملاتړ يون کوي، خو له ډېر ظلم او زياتي اورلګونې وروسته، په پاى کې کوم ځاى ته نه رسېږي، او برلاسى يې قطع او پرې کېږي. دا همدا د حق او باطل دوه لارې دي چې د آخرت د لارې لارويان، د تګلارې او لارليک په انتخاب او غوراوي کې په سرګردانۍ، ځلبلاندۍ، هک پک والي او حيرانتيا اخته کوي. پيغمبر او له هغه سره ملګرو مؤمنينو د حق په لار کې پل کېښود او له خطره ډکې ستونزې يې د کسانو او هملارو له لړوالي سره سره، او همدا راز د ځواکونو د خوارۍ له شتون سره پر ځان واخېستلې او په مېړانه يې وګاللې. تر دې چې د هغوى د وړتياو او قابليتونو په ظرف او ځمکه کې د الهي نصرت د رسېدلو شرايط برابر شول او د هاغو سببونو او لاملونو په توسه چې خداى تعالى د خپل حکيمانه مشيّت پر بنا په عالم کې ځاى پر ځاى کړي دي، هغوى يې بريااليتوب ته ورسول. د ايمان لار، سره له دې چې په پيل کې د کافرانو د اغزو او خندونو په توسه تړلې او محدوده وه، خو په تدريج ورو ورو هموار او ټولو ته پرانېستل کېږي. او «دين الله» ته د ليوالو او عقيدتمندانو پوځ پوځ او ډلو ډلو ته يې په خپل ځان کې ځاى ورکړ [وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا].

(c) ketabton.com: The Digital Library


په مقابل لور کې، باطله لار چې د خپلو جذبوونکو او راکښونکو ښکلاو، رنګارنګیو او ظواهرو سره یې لارویانو ته د سوکالۍ، هوساینې او غوړېدا زیری ورکاوه، په پای کې لاربندی او پرېکون ته ورسېدله او خپل مسافر او لارویان یې د ځلبلاندی، لالهاندی،لارورکی په دښته او بیابان کې سراب او نهیلۍ ته یوازې پرېښوول. که لومړی لار نصرت، فتحې او سوبې ته رسېږي، دا لار د مال او شتمنیو له توښې سره، هیبتناک، ویروونکې، غرغنډه، شعله ور او لمبو والا اور ته رسېږي. [مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ. سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ].

هغه کلیمې چې په دې وروستیو څو سورتونو کې پرله پسې د انسانانو د چلن د دوه ګونیتوب په ستاینه کې کارول شوې دي کټ مټ د دغو دوو لارو د متضادو ځانګړنو بیانوونکي دي. د باطلې لارې د لارویانو هڅې لکه څنګه چې د فیل په سورت کې بیان شوي، له لالهاندی، سرګردانی او ځلبلاندی پرته کوم ځای ته نه رسېږي او لار ترې ورکوي [أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ] او کوم تولید، غځېدنه او پرمختګ به ونلري. دا داسې یو حقیقت دی چې د «ابتر» [پرې والي] له کلیمې سره د کوثر په سورت کې تر ټینګار لاندې نیول شوی دی [إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ]. او په دې سورت کې د «تبّت» [پرې دي وي] له کلیمې سره چې د اورلګاندو ځواکونو [لاسونو] پر خلاف یو شعار دی، بیان شوی دی [تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ]. انسان په دې «بندې کوڅې»، پای ترلې او پرې شوې لار کې له زیان او خسران او نهیلیو پرته بل څه ته نه رسېږي [وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ].

خو هغه کلیمې چې د حق لارې د ځانګړنو په ستاینه کې کارول شوي دي په بشپړه توګه له پوچۍ او بې حاصلۍ [تضلیل] او سراب او لاربندی او پرېوالي [ابتر – تبّت] سره توپیر لري، د حق لارې د ستاینې په لړ کې له «کوثر» او «ماعون» سره مخامخ کېږو، چې هر دواړه د زیاتوالي، ډکوالي او خوښانوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفهوم لري. ددې لارې لارويان له الله او خلکو سره په تلپاتې تړون کې د لارې او سفر ستونزې زغمي او په پرله پسې توګه د الهي فيض له لايزالې سرچينې څخه څواک اخلي [فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ]. دا هاغه لار ده چې هر څومره پرې مخکې څو د باطلې لارې د تنګی او پايترلتوب پر ځای، د حق د لارې پراختيا او ډېربنت او د الهي رحمت بې بريدو افقونو ته نژدې کېږو. دا يوه د الهي قرب او نژدېوالي لار ده او هغه بله د جهنم د ژوروالي لور ته يوه لار ده.

**د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:**

| | | |
|---|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴿۱﴾ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَ مَا كَسَبَ ﴿۲﴾ سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿۳﴾ وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴿۴﴾ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ ﴿۵﴾ | | تَبَّتْ = غوځ دې وي، نابود دې وي، نشت دې وي، لنډ دې وي ـ يَدَا = دواړه لاسونه ـ تَبَّ = هلاک دې وي، نشت کېږي، تباه شو ـ مَاأَغْنَى = نااړمن يې نکړ، ګټه يې ونرسوله، ـ مَاكَسَبَ = هاغه څه چې يې لاسته راوړي، هاغه څه چې يې ګټلي ـ سَيَصْلَى= ډېر ژر به وصل شي، ډېر ژر به داخل شي ـ ذَاتَ لَهَبٍ = شعله ور، لمبې والا، غرغنډې والا ـ حَمَّالَةَ = اوچتوونکې، ډېره بارکښه، لېږدوونکې ـ الْحَطَبِ = خس او خاشاک، د سوخت لرګي، سوځند توکي ـ جِيدِ = غاړه، د ټټر پاسنۍ برخه ـ حَبْلٌ = رسۍ، پړی ـ مَسَدٍ = د کجورو پاڼې او رښکې، د کجورو پټ، تاو شوی مزی، غښتل شوي تارونه ـ |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴿۱﴾

د ابولهب دواړه لاسونه[1] [د هغه د ظلم او اور لګوني څواکونه] لنډ شول،[2] او [په رښتيا چې] هلاک شو [= ناکام شو او موخې ته ونرسېد]

مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ ﴿۲﴾

شتمنۍ او هاغه څه چې يې [له وسې او څواکه] زېرمه کړي ول، هغه يې غني [او نااړمن] نکړ [عذاب يې له هغه لېرې نکړ] [= د هغه د کړنو پر پايلو يې له اخته کېدو مخنيوی ونکړ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿۳﴾

ډېر ژر به د غرغنده لمبو والا[۳] اور کې ننوځي.[۴]

وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴿۴﴾

او د هغه ښځه د اورلګیتو خځلو خسبه ده[۵]

فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ﴿۵﴾

په غاړه [په تېر][٦] کې به یې [د کجورو له پاڼو] د غښتل شوو تارونو رسۍ وي.[۷]

| تَبَّتْ | يَدَا | أَبِي لَهَبٍ | وَتَبَّ | مَا أَغْنَىٰ | عَنْهُ | مَالُهُ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مات شول [لنډ شول] | دواړه لاسونه | د ابو لهب | او هلاک شو | غني [ناړمن] نکړ | له هغه | مال د هغه |

| وَمَا | كَسَبَ | سَيَصْلَىٰ | نَارًا | ذَاتَ لَهَبٍ | وَامْرَأَتُهُ | حَمَّالَةَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| او هغه څه | لاسته راوړي | ډېر ژر به ننوځي | اور | غرغنده لمبو والا | او ښځه د هغه | خسبه [لېږدوونکې] |

| الْحَطَبِ | فِي جِيدِهَا | حَبْلٌ | مِّن | مَّسَدٍ |
|---|---|---|---|---|
| خځلې [خس او خاشاک] | د هغه په غاړه کې | رسۍ | له | [کجورو د پاڼو له] تاو شوو تارونو |

## د سورت د مفرداتو لنډه تشریح:

۱ ـ «يَدَا» تثنیه ده یعنې دوه لاسونه، او د اسلام د پیغمبر(ص) او د هغه د رسالت پر خلاف د ابولهب ټولو شیطنت وزمو هڅو او پارونو ته نغوته کوي. څرنګه چې د یو انسان نیّتونه، موخې او مقصدونه د لاس په توسه د عمل او کړنو بڼه نیسي، «يـد» [لاس] د ځواک او قدرت د اِعمال او پلي کولو نښه ده.

۲ ـ «تَبَّتْ» د «تَبَـبَ» لـه ريښې مجازي مؤنث ماضي فعل دی [زیان یې وکړ]، چې پر ناکامۍ او تاوان دلالت کوي. په قرآن کریم کې دوه ځلې نور هم ددې فعل له م شتقاتو راغلي دي چې هر دواړه موردونه، تر نظر لاندې موخې ته له رسېدو مخکې د ماتې او ناکامۍ مفهوم لري او د فرعون د نقشې او نیرنګونو له سستوالي او خامۍ حکایت کوي: «...وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ» [غافر۳۷ (۴۰:۳۷)]، «...وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ» [هود۱۰۱ (۱۱:۱۰۱)].

د قرآن ډېریو مفسرینو او ژباړونکو د «تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ» په بیانولو کې د ښېرا، غندنې او نفرین شعاري مفهوم کارولی دی، که څه هم د «تَبَّتْ» د کلیمې په ريښه یې معنا کې، یو ډول قطع کېدل او غوڅېدل شتون لري، خو دا ډول معنا د زیان لیدلو او موخې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته له رسېدو څخه د لاس لنډېدو له لوازمو څخه ده او لېرې برېښي چې متعال خدای د پیغمبر(ص) له دښمنانو د يو دښمن پر ضد د غندنې او نفرين وزمه شعار ورکړې وي.

۳ ـ «لَهَبٍ» د اور لمبې او د لمر سوځنده شعلو، ځلاندو او وړانګو ته ويل کېږي، لکه څنګه چې د دروغ انګېرونکو د دوزخي سېوري په ستاينه کې راغلي دي: «...لَا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ» [مرسلات ۳۱ (۷۷:۳۱)] [نه د سېوري خاصيتونه لري او نه د لمر له سوځنده ځلاندو څخه مخنيوی کوي]. ابی لهب هم نه خير او ښېګڼه درلوده، او نه يې څوک له اورسوځولو څخه په امان کې وو. چې د هغه د دوزخي اور د لهبتوب ذات، د هغه په ذات او ضمير کې دننه والي ته نغوته لري، نه دا چې له بيرونه پر هغه ورتپل شوی وي. دې ته ورته چې په قرآن کې يې فرمايلي: د خدای د بل شوي اور حُطمه ده چې پرله پسې له زړونو څرک وهي. «نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ.» [همزه ٦(١٠۴:٦) او ۷].

۴ ـ «سَيَصْلَى» د «صَلَى» له ريښې، د اور د لمبو په منځ کې ځای نيول دي. لکه څنګه چې موسی(ع) په هاغه سړې او تياره ژمنۍ شپې کې خپل کهول ته وويل: تم شئ، ما ته وړاندې يو څه اور برېښي، ښايي د هغه په رڼا کې کوم خبر واخلم يا يو څه له اوره تاسو ته راوړم چې پرې تاوده شئ «... قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ» [قصص۲۹(۲۸:۲۹) او نمل۷(۲۷:۷)]، خو د سلامتۍ له دې اوره تودېدل چرته، او د دوزخ د اور په تاو کې ځای نيول او سوځېدل چرته!؟ د دروغ انګېرونکو سوځند اورتوب، د هغوی د کړنو د وړانګو، سور اوروالی څرګندوي: «إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ» [صافات۱٦۳(۳۷:۱٦۳)] او «...إِنَّهُمْ صَالُو النَّارِ» [ص۵۹(۳۸:۵۹)].

۵ ـ «حَطَبِ» اغزي، خځلې، پيلوځه او خس او خاشاک ته ويل کېږي چې د اور د بلولو لپاره راټولېږي. دا ويې يو ځل بل هم په قرآن کې راغلې ده: «وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا» [جن۱۵(۷۲:۱۵)]. د عدالت غليمان او دښمنان [د عدالت ملو پر خلاف چې د جنت بناکوونکي دي] د جهنم لپاره اغزي، خځلې او خس او خاشاک راټولوي [خپله انرژي د اور په بلولو کې لګوي]. د مبالغې په توګه د «حمالة» ذکر کېدل د فتنې اچونې پر شدت دلالت کوي. له دې سره مل چُغلې او د نورو تر منځ انګل او غوغا ته «حمالة الحطب» وايي، په دې بڼه کې د «ابی لهب» د مېرمن [د ابوسفيان خور چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


پيغمبر(ص) لومړی درجه دښمنه وه] نقش ، د بني هاشم او بني اميه تر منځ په جاسوسۍ او د شر اچولو په واسطه کېدو کې، ډېر ښه روښانه کېږي.

٦ ـ «جِيدِ» د ښځو د ټټر پورتنۍ برخې ته چې له غاړې سره نښتې ده، ويل کېږي چې غاړکۍ پرې ځای نيسي. د شهيدانو د سرلاري خبره ده چې وايي: «خُطَّ الموتُ على وُلدِ آدَمَ مَخطَّ القِلادَةَ عَلى جِيد الفَتاه» [د حق په لاره کې] د آدم بچو ته مرګ لکه د پيغلو پر غاړو د غاړکيو په څېر ښکلی او ګاڼلی دی. په عربي ژبه کې نورې کليمې هم لکه رَقَبه او عُنُق شتون لري چې د غاړې لپاره نور ويونه او مفهومونه دي [لاندي ذکر شوو آيتونه ته دې رجوع وشي: بلد۱۳(۱۳:۹۰)، نساء۹۲(۴:۹۲)، اسراء۱۳ (۱۷:۱۳) او ۲۹(۱۷:۲۹)].

دا تمثيل او تشبيه د يوې داسې ښځې مسخ شوی انځور ځرګندوي چې د مرواريدو د غاړکۍ پر ځای يې، د خسو او خځلو د لېږدولو لپاره پېړ پړی پر غاړه اچولی دی! که لومړنی د فطري ښکلا نښه ده، دويمی د بارکشۍ او د نفس د اسارت نښه ده.

۷ ـ «مَسَدٍ» چې د دې سورة له نومونو څخه يو نوم دی او ښايي ډېر مشهور نوم له ټولو همدا دی، د هاغو رښتو او تارونو پر غښتل کېدو، تاوېدلو او اوبدل کېدلو دلالت کوي چې د وړيو او پنبې د تارونو او رښتو په اوبدون او جوړښت کې [د سپنسيو تاوولو او نسّاجۍ په صنعت کې] او هم د خرمنې او د کجورو د پاڼو د رښتو او تارونو په اوبدون او جوړښت کې ځرګند دي.

د انسانانو لاسته راوړنې هم د ژوند په اوږدو کې په تدريج اوبدل کېږي او يو پر بل اېښوول کېږي او مجازاً د هغه د سرليک د غاړې چوپړوال او اړوند ګرځي: «وَكُلَّ إِنْسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَائِرَهُ فِي عُنُقِهِ ...» [اسراء۱۳(۱۷:۱۳)]. آيا په «فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ» کې د ابولهب د ماندينې هاغه سرليک نه ليدل کېږي، چې پخپله يې جوړ کړی؟

---

## د مسد سورت له لومړي تر پنځم [۱ ـ ۵] آيتونو بشپړه تشريح:

د «مسد» سورة په پيل کې د «ابولهب» له نوم سره، چې ډېر مشهور هم دی مخامخ کېږو. دې موضوع ته مو له دې لامله نغوته وکړه چې خلک ددې سورة په اړه، په ځانګړې توګه په دې وروستيو کې ډېرې ځرګندونې کوي چې دا پخپله په ډاګه کوي چې د «مسد» سورة له مطرحو او مشهورو قرآني سورتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


شخه دی. په هر حال، بېځايه به نه وي چې ددې سورة په منځپانګې او پـه دې نوم کې چې د سورة په پيل کې راغلی دی لږ تم شو او ډېره پاملرنه ورته وکړو.

تاسو به ډېر ځله په تلويزيونونو او په نورو رسنيو کې تبـصرې اورېـدلې وي چـې يو شمېر وګړي د قرآن په ډېريو سورتونو ملنډې وهـي، پـه ځـانګړې توګـه ددې سورت په اړه چې وايي؛ د مسلمانانو خدای شعار ورکړی دی «د ابولهـب لاسـونه دې پرې وي». او دا چې ولې هاغه څوک چې ايمان يې نه دی راوړی وغنـدل شي، لعنت او نفرين شي او لاس يې پـرې او غـوڅ وغوښـتل شي او هغه هـم د خدای تعالی له لورې. نو دا څرګندوي چې د مسلمانانو کتاب ستغ، سخت او له تاوتريخوالي ډک کتاب دی دا څنګه خدای دی چې فرمان يې ورکـړی چـې د هغه انسان لاس دې پرې کړل شي، چې بس ايمان يې نه دی راوړی.

زموږ يو دوست او ملګری ښاغلی «نکتـه دان» چـې تکـړه قـرآن پيژنـدونکی دی نقل کوي چې يو ځلې د يو شمېر افغانانو له لورې د هغـوی مجلـس تـه وروبلـل شو هغوی غوښتل چې د بحث په بهير کې پر اسلام او قرآن د اعتراض پـه پايلـه کې نوموړی ملامته کړي، د مجلس له پيل کېدو سره سم يې پر قرآن اعتراضـونه پيل کړل چې په الهي کلام کې دا څنګه کېدی شي د يو انسان پر ضد چې هغـه هم د پيغمبر خپل سکنی تره دی دا ډول د لاسونو د غوڅېدو شعار ورکـړل شي، نوموړي هغوی ته په خطاب کې وويل؛ دا چې تاسـو پـه قـرآن نـه پـوهېږئ، دا ستاسو خپله ګناه ده او که نه، لومړی دا چې ابـي لهـب د پيغمـبر د تـره نـوم نـه بلکې لقب يې دی، د هغه خپل نوم عبدالعزی وو دا لقب يې ورته لـه دې لاملـه ورکړی وو چې هغه ډېر اورلګاندی وو او تل به يې د مخالفـت او جګـړې اور تـه لمن ته وهله. او بله دا چې د لهب معنا د اور لمبه يـا شـعله ده، پـه قـرآن کـې د هغه د نوم پر ځای د هغه لقب ته نغوته کول دا رسوي چې هغـه تـه پـه اشـارې کولو سره يې د زمانې او د راتلونکو زمانو ټولو هاغو کسانو ته چې اور بلـوي او د مخالفتونو او جګړو اور ته لمن وهي، او په مجازي توګـه يـې ټـول هاغـه کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library


رانغاړلي دي چې د تاريخ په اوږدو کې په يوه بڼه نه يوه بڼه يې د اور لـه لمبې يا شعلې سره اړيکه وي، او د خير پر ځای تل د جګړې او مخالفت اور تـه لمـن وهي. د اور لمبې او شعلې د هغه د وجود له دننه هرې خوا تـه خپرېږي او تـل شر زېږوي، قرآن وايې دداسې وګړو لاسونه به لنډ او غوځ وي او کومې پايلې ته به ونرسېږي، او په پای کې به ناکام او نهيلي وي . نوموړی وايـي؛ چـون ددوی اړيکه د افغانستان د چپيانو له هاغې ډلې سره وه، چې له نوم سره يې شـعله مـل وه. ددې خبرې په اوږدو سره هغـوی سرټيټـي، خجـل او غـلي شـول. پـه دې ترتيب له هاغه مجلس څخه چې هغوی کومې موخې او پـايلې تـه پـه تمـه ول، نيمګړې شوه او مجلس د هغوی د موخو او هيلو پر خلاف پای ته ورسېد.

ددوی ستونزه له قرآن سره په مخامخ کېدو او مطالعه کـې هـم بېسـوادي ده، او هم بدنيتي. د «آل عمران» په سورة کې يې دې ډول انسانانو ته نغوته کـړې ده، او راغلي دي چې؛ ددې کتاب آيتونه پر دوو برخو محکماتو او متشابهاتو ويشـل شوي دي: «فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم زيغٌ» خو هغوی چې په زړه کې يې کوږوالی او بېلارېتوب دی «فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ» [آل‌عمـران ۷ (۳:۷)] هاغـه څه چې ورته او متشابه دي پلټي، هغوی فتنې پسې دي؛ او په حقيقت پسـې نـه دي. دا راز کسان يوازې په پلمـو پسې ګرځـي او يـوه بهانه پيـدا کـوي، او پـه همدې بڼه مطلبونه مخکې او وروسته کوي او يو لړ ظواهر تـرې را اخـلي، هغـه هم د خپلې پوهې او درک او د خپل ځان لپاره د توجيهاتو تر بريده.

خو دويم لېد؛ د لومړي پر خلاف دی [چې لـومړي لېـد د بـد نيـت لـه مخـې يـو لړ مسئلې مطرح کوي او اسلامي شخصيتونو ته يې ښکنځلې او ځورلې کـولې]، پـه دوهـم لېد کې چې زموږ ځينې ډېر ښاغلي او مسلمان انـديال او پوهـان هـم دي چـې خپل ځانګړې نظريات نه يوازې ددې سورت په اړه، بلکـې د ټـول قـرآن پـه اړه لري. ددوی د لېد پر بنسټ، چې معتقد دي قرآن د پيغمبر خبره ده او پيغمبر د قرآن راوړونکـی نـه بلکـې د قـرآن پنځګـر دی، دوی وايـي طبيعـي ده د هاغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضـرت له حال سره متناسب، کله چې مسـرور او خوښ وو، د قرآن مطالب یـې انډول، موزونتر، روان او فصیح بیان کړي دي او کله چې سـتړی او خواشـینی وو، آیتونه په ټیټه سطحه بیان شوي دي. لکه د شاعرانو او لیکوالانو په څېر چې د هغوی فکري تولیدونه د هغوی د ژونـد د روحـي وضـعیتونو او حـالتونو تـابع دي. او له هغې ډلې یې همدې سورة ته نغوته کړې چې ددوی په نظر کې اصلا له نورو سورتونو سره انډولتیا او برابروالـی نلـري او حتـا د پیغمـبر خپلـې ډېـرې خبرې او کلېمې له دې سورة څخه ډېرې اوچتې او فصېحې دي. نو له همـدې لامله دا ډول نتیجه اخېستنې څرګندوي چې باید په دې سورت کـې ډېـره ژوره ځیرنه او څېړنه شي.

زموږ له نظره، ددې خبرې اصل چې ځېنو سورتونو ته په لومړیتوب قایل شـو او د هغوی تر منځ یو ډول تبعیض وګڼو منطقي نه دی.

سمدم لکه ددې په څېر چې وغواړو د خپل بدن غړو تـه یـو پـر بـل لومړیتـوب قایل شو، او مثلاً چې ووایو ماغزه له نورو غړو څخه ډېـر بهـتر دي، یـا سـترګې د پښو له نوکانو ډېرې غوره دي او نوکان هیڅ په درد نه لګـي. دا مسـئله سـړي تـه هاغه ټوکه را په زړه کوي. چې وایې:

د بدن غړو او اجزاؤ یو تر بله بحث کاوه او هر یوه غوښتل خپل ځـان پـر نـورو غوره څرګند کړي، تر دې چې نوبت هاغه غـړي تـه رسـېږي چـې البتـه د نـوم اخېستل یې له نزاکته لېرې دی او د ذکر وړ نـه دی. پـه هـر حـال غوښـتل یـې وو ایي؛ د بدن هر غړی پخپله خپل ځانګړی اهمیّت لـري، او د ټـوکې پـه توګـه ددې مطرح کول ددې لپاره وو چـې دا مفهـوم څرګنـد کـړي چـې کـه د بـدن ځېنې غړي کار ونکړي نور غړي هم له کاره لوېږي.

مقصد دا چې د انسان وړه ګوته یا کوم غاښ که خوږ شي، ټول بدن یې له کـړاو سره مخامخ کېږي او له هغه سره هیڅ غړی نشي کولی خپل کار په سمه توګه سر ته ورسوي. نو، دا ټول غړي یوه ټولګه ده چې یو تر بله کار کوي او یـو لـه، بـل

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره همغږي دي او نه شي کېدی ووایو چې کوم یو یې غوره دی او مورږ ته یې ارزښت او اهمیت تر نورو ډېر دی. ټول ارزښتناک او ګټور دي. ددې ټولګې له غړو هر یو یې پر خپل ځای ګومارل شوی او اړین دی.

اوس په دې سورة کې هم کېدی شي چې مورږ ورته له عرفاني لیده وګورو او ووایو، چې ښه، ددې سورة د غندنې اړخ عرفاني جنبه نه لري، یا که ادیبانه لید ولرو او ووایو چې د وینا د ښکلا او روانۍ له مخې د کلام الله نورو آیتونو ته نه رسېږي، یا د مبارزې او انقلاب او جهاد اهل اوسو او ووایو دا سورة له دې اړخه بې ارزښته دی، یا که علمي او پوهنیز لید ولرو او له دې لید سره دې سورة ته وګورو؛ خو په هر حال هر یو له دوی، له خپل ځانګړي لیده اعتبار لري، په داسې حال کې چې دا سورة باید له خپل اړخ او د هاغو مسئلو له ګوډه چې مطرح کړې یې دي ولیدل شي، او تر څېړنې لاندې ونېول شي.

دا سورة د ابولهب او د هغه دښځې په اړه دی. چې دا دواړه ښځه او مېړه په فوق العاده توګه شقیان ول؛ داسې ښځه او مېړه، چې مېړه یې له بني هاشم وو او ښځه له بني امیه. ابولهب د هاغه چا لقب دی چې اصلي نوم یې «عبدالعُزّی» دی. لکه د پیغمبر^(ص)^ د پلار نوم چې «عبدالله» دی، یعنې د الله بنده، «عبدالعُزّی» هم یعنې د عُزّی بنده. چې عُزّی د قریشو د ستر بُت نوم وو.

قریشو درې ستر بُتان درلول: لات او مَناف او عُزّی؛ سمدم لکه ربّ او الله او مَلِک، هغوی خپل درې ستر بُتان پر دې درې نومونو نومولي ول. دا عبدالعزّی کوم پردی سړی هم نه وو، د پیغمبر خپل سکه تره وو. د پیغمبر^(ص)^ د بعثت پر مهال له نهو ترونو څخه څلور یې ژوندي ول: عباس، حمزه، ابوطالب او یو یې هم همدا «عبدالعُزّی» وو، هغه سر ببره پر دې چې د پیغمبر تره وو د پیغمبر^(ص)^ د دوو زومانو پلار هم وو؛ یعنې د پیغمبر^(ص)^ د دوو لوڼو «رقیه» او «ام کلثوم» خُسر وو. «عبدالعُزّی» او پیغمبر^(ص)^ تر دې بریده کورنۍ نژدې اړیکې درلودې. او «عبدالعُزّی» د بني هاشم له کورنۍ، د عبدالمطّلب له زامنو څخه وو. نو، وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د پیغمبر^(ص)^ له قومه دی او ډېر نژدې خپلوان یې دی. له دې ټولو سره، دا سړی د پیغمبر^(ص)^ له تر ټولو ډېرو کینه کښو او سترو دښمنانو څخه وو. هغه څوک چې د پیغمبر تره او د هغه نژدې فامیل وو، له هغه سره په دښمنۍ کې یې هیڅ حد او برید نه پېژانده. دا سړی هاغو دوستانو ته ورته وو چې له شا خنجر وهي. هغه مهال چې پیغمبر^(ص)^ او د هغه پلیونان د ابی طالب په شِعب کې، په فشار کې ول او بایکاټ شوي ول او هیچا حق نه درلود له هغوی سره اړیکه ونیسي ـ چې تر شپږو میاشتو دې وضعې دوام درلود، یا د ځېنو په وینا تر دوه، درې کالو پورې، چې په تاریخ او سیرت کې یې پوره موده څرګنده نه ده ـ په هر حال په دې موده کې دوی په بشپړه توګه بېل او جلا شوي ول دا سړی پر هغوی د فشار له اصلي لاملونو څخه وو. له پیغمبر سره دښمني یې، د ټولو مشرکینو په نسبت زیاته وه.

خو نوم یې ولې «ابولهب» شو؟ «لَهَب» یعنې د اور لمبه. ځېنو ویلي چون مخ یې تک سور او سپین وو، له ورایه به داسې ښکارېده چې پر مخ یې اور بل شوی وي، له دې لامله یې دا نوم پرې کېښود؛ او ځېنو نورو ویلي څرنګه چې ډېر اوربغرکی او اورلګاندی سړی وو او ډېر شیطنت یې درلود او ډېره اورلګونه یې کوله، دا نوم یې ورته ورکړی وو. په هر حال هر لامل چې وو، دا یو لقب دی چې خپل قوم یې ورته ورکړی وو.

قرآن همدا د «ابولهب» کلیمه چې ددې قول پر بنا د هغه کنیه وه، د هغه د نوم لپاره غوره کړې ده له دې څرګندونې سره چې دا، یو ملتهب یعنې اور لګاندی سړی دی، او ددې سړي له وجود څخه اور غرغنډې او لمبې کوي.

اوس، دې سورة ته پاملرنه وکړئ چې خپله شخصاً ده ته د هغه پر نامه نه غواړي نغوته وکړي، بلکې د هغه د اورلګاندۍ صفت ته اشاره لري، د هغه پر دې ځانګړنې ټینګار شوی چې جګړې ته د سکروټو راوړونکی او اوربلوونکی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعنې پر هاغه صفت يې بريد شوی دی چې د اسلام د پيغمبر او د هغه د دعـوت په وړاندې يې له ځانه څرګند کړی، نه د هغه پر ذات.

د قرآن د پای په څلورو سورتونو کې، څلور ځله د «قُل» کليمه ددې سورتونو په پيل کې کارول شوې ده، چې دې سورتونو ته «چهار قُل» يا څلور قُل وايي، چې هرومرو به مو اوريدلي وي. البته په قرآن کې پنځه سورتونه دي چې د قُل له کليمې سره پيل کېږي [يو يې د قرآن (۷۲) يعنې د جن سورة دی «قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ ...»] او دا څلور سورتونه چې د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي: قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. دوه سورتونه «نصر» او «مسد» له دې څلورو سورتونو څخه تر يوه وروسته راغلي دي. يعنې د کافرون له سورة څخه وروسته يې، دا دوه سورتونه د پرانتز په توګه راوړي دي، چې لومړنی [د نصر سورة] د پيغمبر او مؤمنانو نهايي سرليک څرګندوي او بيانوي چې په پای کې به نصرت او سوبې ته ورسېږي او هغه مهال چې شرايط او چمتووالی، ظرفيت او وړتيا يې ومونده، د الله نصرت به پر هغوی راشي او خلک به پوځ پوځ او ډلې ډلې د الله دين ته وارد شي. نو، د «نصر» په سورة کې د مؤمنانو مثبت سرليک څرګندوي، او زموږ تر بحث لاندې سورة کې، يعنې د «مسد» په سورة کې د هغوی د دښمنانو منفي سرليک او بده پايله، څرګندوي.

د پيغمبر(ص) د نهضت اصلي دښمنان کوم کسان ول؟ څوک د پيغمبر کينه کښ دښمن دی؟ چې اورلګونه يې کوله. او کوم سرليک د هغوی په انتظار کې دی؟ هغوی، د مؤمنانو برعکس، [چې په پايله کې به د مؤمنانو بری په برخه شي] لاسونه به يې غوڅ شي؛ پرې او جلا به شي، کار او اند به يې غځېدنه او پرله پسې توب ونه مومي. «تَبَّتْ يَدَا...» يعنې وايي؛ د هغوی شاتنۍ او دنباله همدا له اوسه پرې ده. د پيغمبر(ص) او د اهل ايمان نهضت به ببرې او ثمر ته ورسېږي او خلک به ډلې ډلې، دې مکتب، هيلې او مرام ته وارد شي. لکه څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


همداسې وشول او د تېولې تاپووزمې وګړي له دې اند او غورځنګ سره يو ځای شول. پايله يې برى دى او د مسلمانانو سوبه، په داسې حال کې چې له ابولهب څخه به، کوم نوم او اثر پاتې نشي. لکه څنګه چې پاتې نشو او په هلاکوونکې ناروغتيا ومړ، او هم موخه يې او هم دى پخپله او د هغه ټول آثار او شته له منځه ولاړل. نو، وينو چې دوه بهيره او دوه جبهې چې يوه د بلې پر وړاندې او ضد واقع دي، بيانوي. نو د هاغو څلورو سورتونو يا څلور قُل په منځ کې يې، د دوو [مثبت او منفي] لارو د پايلې پر بيان پاملرنه کړې ده؛ مثبت يې چې له دې مخکې مو ولوست، [د «نصر» سورة]، او منفي يې چې همدا د «مسد» سورة دى، چې په لاندې ډول توضيح ورکوو:

## لنډې او پرې دي وي د اور بلوونکو لاسونه:

دا سورت د «ابی لهب» پر خلاف له شعار سره پيل کېږي، هر يو شعار پر يـو ډول اراده او آهنګ دلالت کوي. چې خپله هيله او ارزو، په مثبت يا منفي لور کـې، د يو لړ لنډو کليمو په قالب کې بيانوي. د انسانانو اعتقادي يـا سـياسي هيلـې او ارزوګـانې دا ډول نـه دي چـې تـل خـارجي او عينـي تحقـق ومـومي، د شـعار ورکول، يوازې قلبي لېوالتيا او د هغوی د حرکت لـورى څرګنـدوي. خـو هاغـه څه چې الله تعالى د شعار په بڼـه مطـرح کـوي قطعـي او مسـلّم دى او د هغـه د مشيّت ثابت لوری څرګندوي. او کـه نـه، خـدای تعـالى خـو لـه قلبـي اغېـزو او نفساني انفعالاتو پاک دى، چې د يو بنده پر خلاف شعار ورکړي.

البته په قرآن کې دوه ځلې د«قاتلهم الله أنّى يؤفكون» مفهوم کارول شوی دی، [توبه۳۰(۹:۳۰) او منافقون۴(۶۳:۴)] چې ژباړونکو د «قاتلهم الله» جمله پـه «خـدای دې دوی ووژني، يا خدای دې دوی هلاک کړي» ژبـاړلې ده، پـه داسـې حـال کې چې کوم خدای چې د موجوداتو ژوند او مرګ د هغه په لاس کـې دی کـه وغواړې څوک ووژني نو شعار ته کومه اړتيا نلري. ددې کليمې اصل د جنګ په مفهوم هم کارول شوی دی، چې مطلب يـې د دښـمن د حرکـت ودرول او بـې

(c) ketabton.com: The Digital Library


اثره کول دي. لکه څنګه چې په عربي ژبه کې د شرابو د تريخوالي او تېزوالي نيولو او پخولو ته هم «قتل الخمر» وايي. د «تبّت» معنا «پرې او لنډ دې وي» هم له «قاتلهم الله» سره ډېره نږدې ده او هر دواړه د کافرانو د اور لګونې د اغېزو د ودرولو او خنثی کولو لپاره يوه غوښتنه، مشيّت او اراده څرګندوي.

پر دې ترتيب هغه معنا چې ښايي د « تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ» له آية څخه استنباط شي، د ابي لهب د ښي او کيڼ لاس له پرې کېدو څخه ډېره پراخه او وسيع ده. الهي مشيّت داسې حکم کړی دی چې د «ابي لهب لاسونو» توان او هڅه او قدرت، قوت او ځواک دې غوڅ او منقطع وي او په پای کې دې د هغوی د تجاوز او تيري لاسونه د خدای له بندګانو څخه لنډ شي. که څه هم دا څو ورځې تېرى، ظلم او ستم کوي، خو دا د هاغې مودې او محدود مهلت له لامله دی، چې خدای تعالی د انسانانو د ابتلاء او ازمېښت لپاره له واک او اختيار سره هغوی ته ښيلې او ګومارلې دی. سره له دې چې هغوی ته د عمل ډګر او د امتحان مهلت ورکوي خو د الله طرحه او تدبير [کيد] استوار، ټيکاو او ټينګ دی. «وَأُمْلِي لَهُمْ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ» [اعراف۱۸۳(۷:۱۸۳)] چې په پای کې به هيڅوک ونشي کولی د هغه د عدالت له منګولو وتښتي. او په پايله کې به هرومرو د ناسمې لارې تلونکي له سراب او بنديز سره مخاخ کېږي.

لکه څنګه چې مخکې مو وويل: ابی لهب د رسول الله د تر ټولو زيات کينه کښ دښمن، يعني عبدالعزّی کُنيه وه، که محمد(ص) وياړ کاوه «عبداللّه» دی، د هغه د دښمن نوم عبدالعزّی، يعني د بت بنده وو! [عزّی، د قريشو ستر بت وو] دا چې قرآن د خپل دوديز روش پر خلاف په دې سورت کې د يو شخص نوم مطرح کړی دی هرومرو يو لامل لري چې نه ښايي بې توپيره ترې تېر شو. د پاملرنې وړ ژوره خبره په دې کې ده چې د نوم پر ځای يې، د هغه کُنيې ته نغوته کړې ده، چې کټ مټ اسم با مسمی هم دی. داسې يوه کنيه چې د ابی لهب ټوليزه ستاينه او د هغه د صفتونو لنډيز دی او د هغه د شخصيت بڼه په سمه توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خرګندوي. ګواکې د هغه معاصرو او هم مهالو وګړو د هغه د سور مخ يا اورلګونې يا د اور تړته والي له لامله په دې نوم نومولی وو! په هر حال کې دا نوم که له هر لامله پرې ايښوول شوی وي، هاغه څه چې له هغه په تاريخ کې نقل شوي دي د کينې، حسد او دښمنۍ له هاغه سوزوونکي اور څخه حکايت کوي چې د هغه له دننه يې لمبې وهلې، هاغه اور چې هغه يې، د هاغه مهال د دود، رسم او سنت پر خلاف ، د خپل قوم او نژدې خپلوانو پر وړاندې جګړې او مقابلې ته اړ کړ. ابی لهب سره له دې چې د بنی هاشم له زوزاته وو او د عبدالمطلب [د قريشو د مشر] له زامنو څخه ګڼل کېده او د پيغمبر تره او د هاغه حضرت د زومانو پلار وو، له دې حال سره يې د ټولو قريشو په نسبت له هغه سره تر ټولو زيات پردی چلن کاوه. په داسې حال کې چې د هغه مهال قبيلوي تړونونو په طبيعي توګه حکم کاوه؛ چې لږ تر لږه د بني هاشم په څېر چې حتا تر اسلام راوړو مخکې يې له پيغمبره د هغه د دښمنانو پر وړاندې دفاع کوله، او له محمده يې د خپل خوش چلن خپلوان په عنوان ملاتړ کاوه، خو ابې لهب نه يوازې دا چې داسې ونکړل، بلکې له يو مخې يې له بني هاشم سره پرېکون وکړ، او هاغه تړون يې لاسليک نه کړ چې د هغې پر بنسټ بايد ټولو هاشميانو له حضرت رسول اکرم(ص) څخه تر پايه ملاتړ کاوه او ابی لهب يوازېنی هاشمي وو چې داسې يې ونکړل او د کهول او قوم پر خلاف له بني اميه سره، چې مېرمن يې [ام جميل د ابوسفيان خور] له هغوی وه، يو ځای شو او له سنګدلۍ او لجاجت سره په هاغه توطئه او تصميم کې شريک شو چې په توسه يې پيغمبر(ص) او مؤمنين د دوو يا دريو کلونو لپاره ګوښه او په اقتصادي محاصره او د ابيطالب په شِعب کې په محبوس کېدلو محکوم شول. ابي لهب له دننه يو دښمن او د خيانت هاغه لاس وو چې په زهرو ککړ خنجر يې د پيغمبر پر شا واهه. هغه د پيغمبر پر ضد د اورپکۍ او اورلګاندۍ داسې مصداق وو چې تل به حضرت رسول(ص) ته په پېغور او پېغځای کې کېناسته چې د هغه له بلنې مخنېوی وکړي او هر مجلس او هره ناسته يې ګډه وډه کړي؛ او له خپلې تېزې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژبې او د لیونو په څېر حرکتونو سره به یې ګډوډي رامنځته کوله چې د حضرت رسول اکرم(ص) خبره د چا غوږ ته ونرسېږي او د چا په زړه کې ځای ونه نیسي. له رسول الله(ص) او د هغه له بلنې سره د دښمنۍ په اړه د بني امیه او د هغوی د هم پیمانانو اند او پلمه، د جاهلیّت له تعصب او د خپلو بتانو د حریم له ساتلو څخه زیاته، دا وه چې ګواکې هاغه حضرت غواړي ځواک لاسته راوړي او د بني هاشم سروري او مخورتوب زیات کړي. خو په دې راز دښمنۍ کې د ابولهب انګېزه له تعصب او تېتوالي او د هغه د اموي مېرمنې د هڅونې او پارونې له ګوډاګیتوب کېدو پرته، نور څه نه ول.

طبري د عبدالله بن عباس(رض) او حضرت علي(رض) په حواله نقل کوي: چون د «وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ»[شعراء۲۱۴(۲۶:۲۱۴)] آیة نازل شو، د خدای تعالی(ج) رسول(ص) د عبدالمطلب د کهول ټول غړي راوبلل ددې لپاره چې د الله پیغام هغوی ته ورسوي... نو همدا چې د الله رسول(ص) وغوښتل په خبرو پیل وکړي، ابولهب ترې مخکې شو او ویې ویل: پر تاسو یې سحر کړی او په ګډو وډو خبرو یې مجلس ګډوډ کړ او حضرت رسول اکرم(ص) هیڅ خبره ونکړه، او خلک خپاره شول. همدا راز طبري د ابن عباس په حواله لیکلي: «یوه ورځ پیغمبر(ص) د بطحاء لور ته لاړ. غره ته پورته شو آواز یې وکړ، ویې ویل: ـ [يَا صَبَاحَاهُ، يَا صَبَاحَاهُ!] ـ [د «صباح» د کلیمې انتخاب ددې لپاره وو چې، تل به یرغلونه ګهیځ وختي په نابېره توګه واقع کېدل]. کله چې د مکې خلکو دا غږ واورېد، ویې ویل: څوک دی چې فریاد کوي؟ ورویل شول: «محمد» دی، ټول جمعیت د هاغه حضرت پر لور لاړ، هغه د عربو قبیلو هر یوې ته په نامه غږ کړ، «ای خلکو! چمتو شئ او راشئ»، قریش راټول شول او ویې ویل تاته څه درشوي؟ پیغمبر وفرمایل: «أَرَأَيْتُمْ إِنْ حَدَثْتُكُمْ أَنَّ الْعَدُوَّ مُصْبِحُكُمْ أَوْ مُمْسِيكُمْ؟ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟» څه نظر لرئ که تاسو ته مې اعلام کړی وای چې دښمن ګهیځ مهال یا د شپې پر مهال په تورتم کې پر تاسو یر غل کوي آیا زه به مو رښتینی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګڼلم؟ هغوی وويل: هو! هرو مرو مو رښتينی ګڼلې، حضرت ورته وويل: «فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ» نو زه له يوه سخته عذابه تاسو خبروم چې په مخکې يې لرئ. هاغه مهال ابولهب وويل: تباً لَکَ! أ ما جَمَعْتَنا اِلاّ لِهذا؟! – زيان او مرګ دې پر تا وي! آيا د همدې لپاره دې موږ ته غږ کړ او راټول دې کړو؟!

نو ځکه له دې وروسته الله تعالی^(ج) وفرمايل: « تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ»:

«تَبَّتْ»: تباه شو. هلاک شو. نشت او نابود شو. «تَبَّتْ» د «تَبَبَ» له رېښې مجازي مؤنث ماضي فعل دی [زيان يې وکړ]، چې پر ناکامۍ او تاوان دلالت کوي. دا فعل د بددعا، غندنې او خېرو لپاره دی، او د هلاکت او نابودۍ په معنا دی: يعنې هلاک او نابود دې وي! په قرآن کريم کې دوه ځلې نور هم ددې فعل له مشتقاتو راغلي دي چې هر دواړه موردونه تر نظر لاندې موخې ته له رسېدو مخکې د ماتې او ناکامۍ مفهوم لري او د فرعون د نقشې او نيرنګونو له سستوالي او خامۍ حکايت کوي: «...وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ» [غافر۳۷(۴۰:۳۷)] او د فرعون مکر [او تدبير] [د هغه] له زيان [او تباهۍ] پرته بل څه نه وو، «...وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ» او له هلاکت پرته يې څه ورزيات نکړل [هود۱۰۱(۱۱:۱۰۱)].

«يَـدَا أَبِي لَهَبٍ»: د ابو لهب دواړه لاسونه. چې د کلّ تسميه د جزء په اسم ده او له لاس څخه مطلب د هغه ذات او ځواک دی. «يَدَا» تثنيه ده يعنې دوه لاسونه، او د اسلام د پيغمبر^(ص) او د هغه د رسالت پر خلاف د ابولهب ټولو شيطنت وزمو هڅو او پاړَونو ته نغوته کوي. ځرنګه چې د يو انسان نيّتونه، موخې او مقصدونه د لاس په توسه د عمل او کړنو بڼه نيسي، نو «يد» [لاس] د ځواک او قدرت د اِعمال او پلي کولو نښه ده.

«تَبَّ» هلاک او نابود شو. چې د مخکينۍ غندنې د تحقق او واقع کېدو د بيان لپاره ماضي فعل دی او له قطعي او جوت راتلونکې خبر ورکوي. [زيان او هلاکت دې د ابو لهب پر دواړو لاسونو وي چې، زيان موندی او هلاک شوی دی] د تـبّت او تبّ دوه فعلونه، د غندنې او نفرين په معنا «لنډ او نشت دې وي» يا د خبر په

(c) ketabton.com: The Digital Library


توگه «لنډ او نشت شوي دي» يا يو يې غندنه او بل يې خبر دی يا ددې پر عکس دی. د تبّت د فعل نسبت، دوو لاسونو [يدا] ته د هغه په هڅو او د کارونو په پايله کې د نوموړي پر زيان او ماتې دلالت کوي، ځکه چې [يد] لاس د کار او د نيتونو او اخلاقو ښکارندوی دی، د هغه تثنيه [يدا] گواکې پراخو هڅو ته اشاره ده. او تبّ د شخص ابولهب په اړه دی.

نو تَبَّتْ يعنې پرې کړي دي وي. تباب چې د «تَبَّتْ» مصدر دی د هلاک او نابودی او ټوټه ټوټه کېدو په معنا دی، چې د غندنې لپاره دی. يَدَا، او په واقعيت کې«يدانِ»، يعنې دوه لاسونه؛ د ابولهب دوه لاسونه. وَ تَبَّ او غوڅ شول، او نشت دي وي، چې دا د مخکينۍ غندنې او دعا د واقع کېدو بيان دی. نو پاملرنه وکړئ چې له «يَد» څخه کوم مطلب اخېستل کېږي؟

هغوی چې په رسنيو کې پر دې سورة نيوکې کوي هغوی انگېري چې مطلب يې همدا فزيکي گوتې او لاسونه دي، په داسې حال کې چې په قرآن کې «يَد» په نورو معناو هم راغلی دی؛ دا کليمه نه يوازې د انسان په اړه، بلکې په ځلونو د الله په اړه هم کارول شوې ده او تل د کليمې استعاره ای معنا لري. مثلاً وايي: «... يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ...» [فتح١٠(٤٨:١٠)] د الله لاس له لاسونو د پاسه دی. يعنې څه؟ د خدای لپاره خو نشو کولی لاس قايل شو. يا په بل ځای کې وايي: «... بِيَدِكَ الْخَيْرُ ...» [آل‌عمران٢٦ (٣:٢٦)] موږ هم کله چې تعبير کوو چې مثلاً خدايا خير او نيکي ستا په لاس کې ده. نو، يَد دلته د قدرت او ځواک په معنا دی. يا «... قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللَّهِ...» [آل عمران٧٣(٣:٧٣)] ووايه په تحقيق سره فضل د الله په لاس کې دی. دا ډول تعبيرونه په پښتو کې هم لرو. يا دا چې «قُلْ مَنْ بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ ...» [مؤمنون٨٨(٢٣:٨٨)] ووايه دا چې د هر څيز سمبالونه او واکمني د الله په لاس کې ده. يا هغه چا ته چې د خپل پالونکي څښتن له آيتونو څخه يې مخ اړولی دی؛ وايي: «... مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ...» [کهف٥٧(١٨:٥٧)] همهاغه څه دي چې په دوو لاسونو يې له

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخکې لېږلي دي، يعنې مخکې له دې چې په آخرت کې د خدای په درشل کې حاضر شي، په داسې حال کې چې زموږ ډېر کارونه په فکر او ژبه دي، نه زموږ د لاسونو په توسه. نو «يد» په دې موردونو کې مجازي حالت لري. د انسان کړنې او لاسته راوړنې هم سره ددې چې له ژبې او سترګو او غوږونو سره سرته رسېدلې وي، «يد» ته يې نسبت ورکول کېږي او انسان ته د هاغه څه پر بنسټ چې، د هغه دوو لاسونو «يداه» سر ته رسولي، جزا ورکول کېږي. [چې دوه لاسونه د انسان د تصميم او ارادې د تحقق او ځلا ښکارندوی دي]: «ذَلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ...» [حج۱۰(۲۲:۱۰)] دا همغه څيز دی چې ستا لاسونو له مخکې رالېږلي دي.

کله هم د تصميم، ارادې او اجازې معنا ورکوي چې په يو ډول د هماغه ځواک اثر او نتيجه ده. لکه چې وايي: «...بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ...» [بقره۲۳۷(۲:۲۳۷)] يعنې هغه څوک چې د نکاح تړون د هغوی په لاس کې دی. مثلاً هلک او جينۍ يا پخپله واده کوي يا د هاغه چا په توسه چې د هغوی عقد او نکاح د هغه په لاس کې ده؛ يعنې مثلاً د جوړې له دواړو څخه د يوه يا د دواړو واک د هغوی له پلار يا نيکه سره دی؛ چون کېدی شي د هغوی د ټيټ سن له لامله، د هغوی يا له هغوی څخه د يوه واک مثلاً له پلار يا نيکه سره وي.

د قرآن ډېريو مفسرينو او ژباړونکو د «تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ» په بيانولو کې د ښېرا، غندنې او نفرين شعاري مفهوم کارولی دی، که څه هم د «تَبَّتْ» کليمې په ريښه يې معنا کې، يو ډول قطع کېدل او غوڅېدل شتون لري، خو دا ډول معنا د زيان لېدلو او موخې ته له رسېدو څخه د لاس لنډېدو له لوازمو څخه ده او لېرې برېښي چې متعال خدای د پيغمبر(ص) له دښمنانو د يو دښمن پر ضد د غندنې او نفرين وزمه شعار ورکړی وي.

او همدا راز په دې سورة کې له «لاس» څخه مطلب هم، د ابولهب دا مادي او فزيکي لاس نه دی؛ بلکې لاس دلته په مجازي توګه کارول شوی دی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځـواک او قـدرت ښـکارندوی دی؛ یعنـې هاغـه؛ د شرک ځـواک، د مخالفـت ځواک، د دښمنۍ ځواک، چې له پیغمبر سره مقابله کوي او غواړي چـې اسلام نشت کړي، هاغه منفي ځواکونه چې د اسلام د نهضت او انقلاب په مقابل کې پـه یوه لیکه شوي دي، دا ځواک دې پرې او غوڅ وي، قطعـه دې وي، نشـت دې وي. دا شعار دی خو په واقعیت کې له حقیقت سره سم دی، او کـه نـه خـدای تعالی(ج) خو شعار نه ورکوي. روښانه ده چـې خـدای تعـالی(ج) کـه وغـواړي پـه یقیني توګه به داسې وشي. که هغه اراده وکړي، کافران او د اسـلام دښـمنان بـه مقطوع شي او اړینه نه ده چې خدای تعالی هغوی وغندي. دا مـوږ انسانان یـو چې شعار ورکوو او د انسانانو شعار د هغوی قلبي لېوالتیا ښـکاره کـوي. مـرګ پـر پلانکي، ژوندی دې وي پلانکی، پلانکی بیـرغ دې ټېکـاو وي، دا د یـو ملـت د غوښتنو څرګندونه کوي؛ خدای تعالی خو اړتیا نه لـري چـې شـعار ورکـړي. کـه خدای تعالی غوښتلی د ابولهب روح یې اخېسته او نور نو اړین نه وو چـې لاس یې غوڅ کړي یا یې وغندي. او هغه مهال هـم، چـا خـو د ابولهـب مـادي لاس غوڅ نکړ چې د اسلام مخالفین په رسنیو کې ووایي چې د عقېدې له کبلـه ولـې باید د یو انسان لاس غوڅ شي. نه داسې کومه پېښه شوې او نه چـا لـه دې آیتـه داسې کوم مطلب اخېستی چې د ابولهب فزیکي لاسونه باید غوڅ شوي وای او دا کار شـوی هـم نـدی ... حتـا هغـه آیـت چـې د غلـه پـه اړه دی او فرمـایي: «وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَب...» [مائده ۳۸ (۵:۳۸)] د نرینـه یا ښځینه غله د عمل جزا داده چې لاس یې غوڅ شي، له لاس څخـه مطلـب پـه لازمي توګه د هغه د لامسې غړی نه دی. البته په تېـر کـې چـې ډېـری کارونـه د لاسونو په توسه سرته رسول کېدل او داسې کارونه چې پرته له لاسـونو وي ډېـر لږ سر ته رسېدل. خو په هاغه پَیر کې چې زندان نه وو، پولیس او څارندوی، او کوم امنیتي سیستم هم نه وو، که چا بـه غـلا کولـه، پـه ځـانګړې توګـه پـه هاغـه دوران کې یوازینۍ حل لار یې دا وه چې د یوې نښې او علامې په توسه غـل و پېژندل شي او مثلاً فرض کړئ یوه ګوته یې غوڅه کړي. خو حتا په هاغې ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې هم ويلی شو چې مطلب يې دا مادي او فزيکي لاس نه دی او مطلب تـرې د شخص د ځواک، وسې او قدرت لاس دی. لکه څنګه چې اوس هـم وينـو کـه کوم کسان مثلاً په سترو شرکتونو کې غټې غلاګانې وکړي، څـه ډول يـې لاسـونه پرې کوي؟ دلته خو نور يو وګړی نه دی، لسګونه کسان دي. د لاسونو پـه توسـه يې هم چې غلا نه ده کړې. سترې کمپنۍ له کامپيوټر سره کـار کـوي، چـې نـه کوم حقوقي شخصيت دی او نه کوم حقيقت دی، چـې فعاليـت لـري. نـو بايـد عمـلاً يـې لـه هاغـه شرکتـه لاس لنـډ کـړای شي، او لاس يـې مـثلاً د پلانکـۍ اړيکبندۍ له کاروني لنډ کړل شي. زموږ په زمانه کې هم چې وينۍ لګيا دي په دې حکم عمل کوي. وينو چې هر څـوک کـه کـوم خـلاف او خطا کـار وکـړي مارکدار او نښاني کېږي، په سوابقو او کړنپاڼو کې يې شامليږي او نور نو هغـه تـه څوک کار نه ورکوي.

مثلاً په اروپا يا آمريکا کې که څوک د کور قسط يا د برېښنا او غاز لګښت پر خپل وخت ورنکړي او اعتبار يې خراب شي که کوم ځای اجاره کول غواړي پـر هغـه اعتماد نه کوي؛ يعني په واقعيت کې لاس يې لـه کـاره پـرې کـوي. د وسـمهال حقوقي او قضايي سيستمونه په عملي توګه ډېر په ځير دا قانون اجرا کوي.

که څوک د ټولنې د اعتماد او ويسا وړ نه وي لاس يې پرې کېږي او لـه ټـولنيزو فعاليتونو او چارو يې لاس لنډېږي، که په هر کار کـې وي لـه هغـه کـاره د لاس لنډولو له لارې عملي کېږي، مثلاً په موټر چلولـو کـې کـه څـوک درې ځلـې د خلاف او خطا کړونکی شي، لاس يې له موټروانۍ لنډوي؛ د موټر چلولـو اجـازه ليک ترې اخلي او نوره ورته اجازه نه ورکوي چې د موټروانۍ پر سيټ کښـېني. دا ټول يوشمېر مفهومونه دي چـې لـه فزيکـي لاس څخـه ډېـر پراخـه دي او دا فزيکي لاس د«يد»له مصاديقو يو ګڼل کېږي.

نو د « يد» معنا د «تبت يدا ...» په آية کې له لاس څخه [چې د بدن د غړي په توګه دی]، ډېره پراخه او اوچته ده او که هم د لاس په اړه کارول کېږي له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لامله ده چې لاس د ځواک او قوت د کارولو وسیله ده. پر دې بنا ددې کلیمې جامعه معنا همدا توان او ځواک دی. او که هم د استعارې په توګه د نعمت او ملک او ددې په څېر د نورو په اړه کارول کېږي د هاغه ځواک او قدرت له لامله دی چې لاس د نعمت ورکړه کوي او یو ملک برابروي.

همدا راز د «یدا» معنا په [تبت یدا ... ] کې چې دوه ښی او کیڼ لاسونه دي، ګواکې د استعارې په توګه مثبتو او منفي هڅو، افراط او تفریط، کیڼ لوری تګ او ښی لوری تګ، بخشش او بخل او د انسان د چلن دوو متضادو اړخونو ته اشاره لري، په هر حال کې څرنګه چې د ابو لهبـانو نیتونو د هغوی په ټولو هڅو کې باطل او بیهوده دي که په ظاهري بڼه کوم په زړه پورې کار هم سر ته ورسوي بې ببرې، بې پایلې او پرې شوی به وي.

په هر حال، دا الهي پیغام او خبرتیـا ده چـې د زمـانې د [ابولهـب ســانو] فکـر او عمل به نتیجې ته ونرسیږي. غوڅ دې وي د خیانت کارانو درغلـګرو او درغلـن چارو لاسونه، لنډ او پرې دې وي، د تیري کوونکو، یرغلګرو او ظالمـانو لاسـونه. دا په واقعیت کې الهي اراده او غوښـتنه ده. یـو قـانون دی چـې پـه نـړۍ کـې جاري او ساري دی، او همداسې هم وشول. عملاً هم وښوول شول چې هغه او هغه ته ورته کسان کوم ځای ته ونرسېدل او د هغوی ټـولې هڅـې، چـل ول او دسیسې بندې کوڅې، خنډ او بندیز ته ورسېدلې.

په یو لنـډ آیـت کـې چـې ددې سـورة پـه پیـل کـې راغلـی دی دعـا او غندنـه اعلانوي، او هغه ته تحقّق ورښې او پلي کوي، او جګړه پای ته رسېږي، او پرده رانښکته کېږي! خو هاغه څه چې ددې سورة د پیلامې له آیـت وروسـته راځـې، په حقیقت کې د هغه څه بیان او توضیـح ده چـې واقـع شـوی دی او پـای تـه رسېدلی دی:

مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ. ما، نافیه یا انکاري استفهامیه ده. عنه چون د رد او دفاع څرګندونه کوي د مَا أَغْنَى عَنْهُ مفهوم، دا دی چې هغه انګېرله، کوم مال

(c) ketabton.com: The Digital Library


یې چې راغونډ کړی او زېرمه کړی دی او کوم ځواک او برلاسي یې چې لاسته راوړی دی هغه به له هر څېزه بې نیازه کړي او د پیښو پر وړاندې به ترې دفاع کوي او له غورځېدا څخه به یې مخنیوی کوي؛ خو هغه ته یې کومه ګټه ونرسوله. قرآن د غندنې اونفرت په بڼه له دې سرې یادونه کوي فرمایي: هلاک او نشت دې وي د ابولهب هر دواړه لاسونه او نشت شوی دی هغه پخپله. او ورپسې فرمایي: مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ. کوم مال او شتمنۍ یې چې لاسته راوړي دي [کوم مقام او شغل یې چې حاصل کړی دی] هغه ته یې کومه ګټه ونرسوله [او هغه د دوزخ له اوره نه بچ کوي]. دلته قرآن یوې مهمې موضوع ته نغوته کوي او موږ پوهوي چې د حضرت رسول اکرم(ص) په مقابل کې ددې سړي د انحراف او مبارزې یو عامل او په یو اعتبار د هغه د غرور او جحود او انکار لامل همدا مال او منال او شتمني وه، په ځانګړې توګه هاغه څه یې چې د خپل هنر او ځواک په توسه لاسته راوړي ول. لکه د نورو وګړو په څېر چې انګېري، ثروت او شتمني د انسان لپاره هر څېز دی.

د ثروت او شتمنۍ په اړه د انسان اشتباه همدا ده. که ثروت ته انسان په دې سترګه وګوري چې شتمني د انسان له اړتیا وړ توکو، چارو او څېزونو څخه ده، یعنې داسې و انګېري چې شتمني د هغه یو شمېر اړتیاوې رفع کوي او له دې زیات څه اهمیت نلري، په دې صورت کې شتمني انسان ته زیان نه رسوي؛ یعنې شتون یې خیر او ګټور دی، چې په دې توګه له داسې انګېرنې سره شتمني زیان رسوونکې نه، بلکې د کار د آسانۍ لپاره مرسته کوي. خو که ثروت د انسان لپاره داسې بڼه ونیسي او داسې وانګېري، چې کله سړی ثروت ولري هر څه لري او ټولې چارې له شتمنۍ سره سمېږي او له ثروت سره ټولې ستونزې حل کېږي او دا چې سړی پیسې ولري نور نو غم نلري، او د ثروت په درلودلو سره ځان پر نورو اوچت ګڼي او پر نورو کبر کوي، همدا مهال دی چې ثروت د انسان د بدبختۍ لپاره جوهر او تومنه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د «همزَة» په سورة کې دې موضوع ته چې انسانان له مال او ثروته د راپيدا شوي غرور څخه څه کړني او عمل کوي، په ځرګنده توګه نغوته کوي او په توسه يې د انسان کړني په ځانګړي توګه انځوروي؛ فرمايي: وَيۡلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ. الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ. يَحۡسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخۡلَدَهُ. [همزة۱(۱۰۴:۱) تر۳]. «هُمَزَة» او «لُمزَةٍ» يعني هاغه ډله چې همز او لمز کوي، هاغه کسان چې د سترګو له اشارو او د سترګو له کُنجونو او د شونډو له کُنجونو سره او د پېښو او تمثيل په توسه نور خلک تحقيروي، سپکاوی ورته کوي او ملنډې پرې وهي. خلکو ته ددې بې اعتنايي او بې پامې او انسانانو ته د سپکاوۍ منشأ او سرچينه د هغوی پيسې او شتمني ده. ويني چې نور يې نلري او هغه يې لري نور ټول د هغه په نظر کې کوچني دي، او دا پخپله چې شته او هر څه لري تر نورو خپل ځان ستر ګڼي. «الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ.» هغوی چې مال او شتمنۍ يې راټولې کړې دي او پرله پسې يې شمېرلې او حساب کړي دي، او تل پر دې اخته دی چې خپل حسابونه سم کړي او هغه وګڼي، چې مثلاً د څو ميليونو يا ميلياردونو څښتن دی. يَحۡسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخۡلَدَهُ. هغه انګيري چې دا مال به يې تلپاتې او جاويدان کړي. سره له دې چې انسان يقين لري چې يوه ورځ به هرومرو مړ کيږي، خو کله کله مال او ثروت داسې يو غرور پکې رامنځته کوي چې د انسان حالت د هغه چا د حالت په څېر کيږي چې خيال کوي نور به نو د مال او ثروت په ډاډ له هر آفته خوندي وي او دا شتمني او ثروت به يې تلپاتې او جاوېدان کړي.

نو ابولهب د کوم څيز پر تکيه او ډاډ له پيغمبر سره دښمني او کينه کښي کوله؟ پر دې ډاډه چې شتمن سړی وو؛ هغه د خپلې زمانې په تناسب ميليونر وو. خو له خپل ټول مال او شتو او ټولنيز موقعيت سره، او د قرآن په تعبير له ټولو لاسته راوړنو سره، په پای کې چرته ورسېد او څه يې وکړل؟ نه يې شتمنيو او نه په ټولنه کې موقعيت يې کومه نتيجه ورکړه او هغه يې له اړتيا بچ نکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وګړي انګيري چې که شتمن او ځواکمن وي، پوړ او مقام ولري، دا ځيزونه به يې ملاتړ وکړي. دوی خيال کوي د مال او موقعيت پر تکيه، هر کار چې يې زړه وغواړي کولی شي. هغوی ته فرمايي دا ځيزونه هيڅ يو به تاسو ناآړمن نکړي او په درد به مو ونلګي او ستاسو کومه ستونزه به حل نکړي. نه د ابولهب اور لګونو او نه د هغه ګډوډيو او اله ګولو، وکولی شو اسلام له ريښې وسوځوي او د الهي وحی د وړانګو مخه ونيسي او نه مال او مقام يې د هغه په ساتنه کې په کار راغی. کوم مهال چې هغه وليدل د قريشو مشران او سروال له ساز او سامان او سمبال پوځ سره په بيړه له مکې ولاړل او په بدر کې د مسلمانو له وړې بې ساز او سامانه ډلې سره مخامخ شول، ابولهب د سوبې زيري او د محمد(ص) او د هغه د پليونانو د سرونو تحفې ته سترګې پر لار وو. چې نابېره يې د قريشو د رسوا ماتې او د وينو بهيدنې او د بدر په خاګانو کې د قريشو د سروالو او د خپلو همغاړو ملګرو د پرېوتلو خبر واورېد. ټولې هيلې يې چې په سر کې درلودې پر باد لاړې. او پرته له دې چې لکه د نورو قريشيانو غوندې د جنګ ليکې ته لاړ شي او توره وکاږي؛ غم، انديښنو او ماتم يې له کينې پر ډک زړه فشار راوړ، له پښو يې وغورځاوه او نور پورته نشو تر دې چې بدن يې د عَدَسه ناروغۍ [د چيچکې دانو يا پر پوټکي د تناکو وبايي ناروغۍ] داسې خيرن او مکروبي کړ چې په دې حال کې چې هيڅوک ورته نه نږدې کېده، سترګې يې له دنيا پټې کړې او په هاغه دوزخ کې چې پخپله يې ځانته برابر کړی وو سترګې پرانېستې.

هغه پر مال او مقام له ډېرې لګولو سره، خپل برياليتوب جوت ګاڼه، په داسې حال کې چې هيڅ يو له دوې ونشو کولی هغه د حق د نور په غلي کولو او د خپلو کړنو له پايلو ښخه په بچ کولو کې ناآړمن کړي «مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ». دا د هغه دنيوي سرليک وو، لکه څنګه چې په دنيا کې مال او لاسته راوړنو يې ونشو کولی ورسره مرسته وکړي، په آخرت کې هم، د هغه شتمني او برلاسی له لاسه ځي، د هغه شتمنيو او مال، هڅو او تلاش د هغه لپاره هيڅ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library


ونکړې، هغه او د هغه هر څه له هلاکت او تباهۍ سره مخامخ شول. [د قرآن په بيان د اصحاب شمال له ژبې: «مَا أَغْنَى عَنِّي مَالِيَهْ. هَلَكَ عَنِّي سُلْطَانِيَهْ» [حاقه٢٨(٦٩:٢٨) او ٢٩] شتمنۍ مې زه ناارمن نکړم، واکمني مې له ما لاړه.] يعنې دا دنيا يې چې پای ته ورسېده؛ په آخرت کې به هم د خپل ځان له دننه د بل شوي اور په پايلو اخته کېږي؛ «سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ». [په دې دنيا کې هم بدبخته او بيچاره شو] او په قيامت کې به هم داسې يو اور ته ورننوځي چې «ملتهب» او لمبو والا به وي، داسې اور چې ذَاتَ لَهَب، [د التهاب څښتن] يې، پخپله ابولهب دی، هغه چې د التهاب، شعلو او لمبو پلار دی، داسې اور ته به ننوځي چې هغه اور پخپله له همده مشتعل، ملتهب او بل شوی دی.

دا مو په ځلونو مخکې ويلي چې د جنت نعمتونه او د جهنم عذابونه په دې دنيا کې د انسان له کړنو او عملونو څخه تجسم مومي. يو سړی چې په دې توګه د کينې، حسادت او د جحود او انکار له اوره ملتهب دی د داسې سړي وجود سر تر پايه اور دی. کله چې مړشي «لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ» [هغه ته ويل کېږي] ته [د دنيايي عمر په موده کې] له يو مخې له دې [د عملونو د ثبت او ضبط له ميکانيزمه] غافل وې، دا دی ستا له سترګو مو [د غفلت] پرده لېرې کړه، اوس دې نو سترګې تېزې دي، او هر څه درته په بربنډه بڼه څرګندېږي او په ښکاره او برېښنده توګه هر څه ويني. هاغه مهال به خپل ځان په دې غرغنډه او لمبو والا اور کې ويني، چې په دينا کې هم په همدې اور کې سوځېده خو حس کولی يې نه شو.

سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ. سَيَصْلَى، خبر له راتلونکي دی او دا د ابولهب له مرګه مخکې ددې سورة پر نزول دلالت کوي. نَارًا، ځانګړي اور ته نغوته کوي. ذَاتَ لَهَبٍ. ددې څرګندونه کوي چې ددې اور او د اورلګاندي رينښه يوه ده، هر دواړه له يوې سرچينې او د يو راز لمبو لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


«سَيَصْلَى» د «صَلَىَ» لـه ريښې، د اور د لمبو پـه منځ کـې ځـای نيـول دي. لکـه څنګـه چـې موسـی(ع) پـه هاغـه سړې او تيـاره ژمنـۍ شـپې کـې خپـل کهول ته وويل: تم شئ، ما تـه وړانـدې يـو څـه اور بريښـي، ښـايي د هغـه پـه رڼا کې کـوم خـبر واخلـم يـا يـو څـه لـه اوره تاسـو تـه راوړم چـې پـرې تـاوده شـئ «...قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ» [قصص٢٩(٢٨:٢٩) او نمل٧(٢٧:٧)]، خـو د سـلامتۍ لـه دې اوره تودېـدل چرتـه، او د دوزخ د اور پـه تـاو کـې ځـای نيـول او سـوځېدل چرتـه!؟ د دروغ انګېرونکـو د سـوځند اور خاصـيت، د هغـوی د کړنـو د بـريښ، سـور اورتـون څرګنـدوي: «إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ» [صافات١٦٣(٣٧:١٦٣)] او «...إِنَّهُمْ صَالُو النَّارِ» [ص٥٩(٣٨:٥٩)].

لکه څنګه چې حسد او کينه پالنه د ابولهب په تياره دننه کې ريښه درلـوده او د هغه له ژبې او نورو غړو څخه يې لمبې را ايستلې پـه دې تمـه چـې د حـق او د حقپالو زړونو ريښې وسوځوي. نو هغه به ډېر ژر، په راتلـونکې کـې، پـه اور کـې واچول شي. او له داسې يوه سرليک سره به دوچار شي. په داسې اور کـې چـې ذَاتَ لَهَبٍ؛ داسې اور چې د لمبو او غرغنډو لرونکـی دی. پـه واقعيـت کـې دي سړي پخپله دا اور بل کړی دی، ويلی شو چې دا پخپله ددې اور لپـاره د خسـو او خاشاکو انبار دی.

«لَهَبٍ» د اور لمبې او د لمر سوځنده شعلو، ځلاندو او وړانګو ته ويل کېږي، لکـه څنګه چې د دروغ انګېرونکو د دوزخي سېوري په ستاينه کې راغلي دي: «...لَا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ» [مرسلات ٣١ (٧٧:٣١)] چې نه د سـېوري خپروونکـی [= واقعي ساتونکی] دی او نه له اوره مخنيوی کـوي. ابـی لهـب هـم نـه خيـر او ښېګڼه درلوده او نه هم لـه اورسـوځولو يـې څـوک پـه امـان کـې وو. د هغـه د دوزخي اور د لهب والي ذات، د هغه په ذات او ضمير کـې دننـه والي تـه نغوتـه لري، نه دا چې له بيرونه پر هغه ورتپل شوی وي. دې ته ورته چې په قرآن کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې فرمايلي: د اور حُطمه د خدای بل شوی اور دی چې پرلــه پسې لـه زړونـو خرک وهي. « نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ.» [همزه٦(١٠۴:٦) او ٧].
نوم يې «ابولهب» دی او سرليک يې هم «ذات لهب». چې هر دواړه يو تر بله تناسب لري، سرليک يې هم داسې يو اور دی چې پخپله يې رامنځته کړی دی. هر څوک چې څه کري هغه به ربېي. هغه چا چې په ژوند کې د خلکو ژوند ته اور ورته کړی، له ظلم او ستم سره، او له هاغو شکنجو او رَبړَونو سره چې کړي يې دي او هاغه مفاسد چې په دنيا کې يې سر ته رسولي دي او د خلکو ځان او مال ته يې اور ورته کړی دی طبيعتاً سرليک به يې له داسې اور پرته نور څه نه وي.
عجيبه دا چې د «لهب» کليمه دوه ځلې په دې سورت کې کارول شوې ده چې دا دويم ځل د هاغه کافر د عذاب په توګه چې د هغه د اوربلوونکي نفس توصيف او تحقق دی څرګند شوی دی: په دې دنيا کې د هر راز ځواک او لاسته راوړنو څخه له لاس لنډېږو وروسته په پای کې په آخرت کې «سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ». داسې ستر اور ته به ننوځي او وبه سوځي چې د غرغنډېو لمبو والا، ژبه ور او شعله ور به وي. «لَهَب» چې د اور لمبه او زبانه ده د اور د انځورولو او مشخص کېدو لپاره، او د هغه د لمبو او شعلو لپاره ذکر کېږي.
او لا هيښوونکي دا چې د هغه د مېرمنې انځور هم څرګندوي، چې جګړې او معرکې ته د اور او سکروټو راوړونکې وه، په داسې حال کې چې د خسو درونـد پنډ له زيږې رسۍ سره پر خپلې غاړې لېږدوي. نـار، ذات لهب او حطب چې په دې آيتونو کې کارول شوي دي د حق له لارې سره د مقابلې لپاره د ابولهب د اور بلولو له صحنې يو تصوير او انځور څرګندوي. خو د حسد، کينې او دښمنۍ اور چې د هغه له دننه لمبې کوي په پای کې هغه پخپله د بدر د ماتې له غوسې او هغې سختې بيمارۍ چې پر ځان يې برلاسې شوې وه له پښو وغورځېد او اوربلوونکي لاسونه يې د خلکو له ځان او مال څخه لنډ شول.
«تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ».

(c) ketabton.com: The Digital Library


مېرمن يې: وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ. او د ابولهب مېرمن هم له هغه سره په اور کې لوېږي په داسې حال کې چې د خس او خاشاکو لېږدوونکې ده. وَامْرَأَتُهُ، سيصلى ته يا د هغه ضمير ته عطف دی. «حمّال» يعنې هاغه څوک چې کوم بار لېږدوي. «حَطَب» يعنې خځلې، خس او خاشاک. حماله د امرأته لپاره خبر دی چې د سخن چينې او فتنه ګرې ښځې څخه کنايه ده چې د جګړې او فتنې د فعل د هڅونې او پارونې لپاره وسيله شي لکه څنګه چې هر سخن چين او د فتنې وسيلې ته، حمالة الّحطب وايي.

«حَطَبِ» هاغو اغزو، خځلو، پيلوځو او خسوخاشاکو ته ويل کېږي چې د اور د بلولو لپاره راټولېږي. دا ويي يو ځل بل هم په قرآن کې راغلی ده: «وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا» [جن۱۵(۷۲:۱۵)]. د عدالت غليمان او دښمنان [د عدالت ملو پر خلاف چې د جنت بناکوونکي دي] د جهنم لپاره اغزي، خځلې او خسوخاشاک راټولوي [خپله انرژي د اور په بلولو کې لګوي]. د «حمالة» مبالغه ذکر کېدل د فتنې اچونې پر شدت دلالت کوي. له دې سره مل چغلي او د نورو تر منځ انګل او غوغا اچوونکې ته «حمالة الحطب» وايي، په دې بنه کې د «ابی لهب» د مېرمنې نقش ، د بني هاشم او بني اميه تر منځ په جاسوسۍ او د شر اچولو په واسطه کېدو کې، ډېر ښه روښانه کېږي.

نو ابولهب پخپله اورلګاندی او ښځه يې پيلوځه او خسبه او فتنه ګره وه. چې «حَمَّالَةَ الْحَطَبِ»: د خسبه او د لرګو لېږدوونکې په معنا له سخن چين څخه کنايه ده چې د خلکو تر منځ د کينه کښۍ او دښمنۍ د اور په لګولو او تازه کولو سره، د هغوی د مينې، محبت او دوستۍ درمند ته اور اچوي، او د ټولو د دوستۍ رښتې او د خپلوۍ اړيکې پرې کوي. چې دا اصطلاح په پښتو کې هم لرو چې وايو پلانکی د جګړې د اور بلوونکی دی. ځينې د فتنې اور ته لمن وهي او ځينې هم ورته خسوخاشاک راوړي او سون توکي يې برابروي. لکه څنګه چې مو وويل؛ ابولهب د پيغمبر د دوو زومانو پلار او له قريشو څخه وو او د پيغمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library


تره وو، خو ښځه یې چې اصل نوم یې «عَرْواء» وو او کُنیه یې «اُمّ جَمیل» چې زیاتره پر همدې کُنیه مشهوره وه. د ابوسفیان خور او د حَرْب بن اُمَیّه لور وه، یعنې د پیغمبر د لومړۍ درجې دښمن خور وه چې ابوسفیان د عربستان په ټاپووزمه کې د شرک اصلي اډه او پایگاه وه. او د ابولهب پر جهالت سربېره د هغه د ناسمو کړنو اصلي لامل همدا ښځه وه چې، د هاغه پخواني حسادت، کینې او رقابت له مخې چې د بني اُمیه او بني هاشم تر منځ شتون درلود، خپل مېړه یې د پیغمبر په مقابل کې د دښمنۍ لپاره هڅاوه. سرهددې چې ابولهب هاشمي وو، او د هاغه مهال د قبیلوي تعصب پر بنسټ ابولهب باید د بني هاشم پر لور وای نه د بني امیه پر لور، خو د پیغمبر(ص) په اړه او د هغه د دعوت او بلنې پر وړاندې رسماً له بني امیه سره ولاړ وو، او د ژوند تر پایه له بني هاشم سره یو ځای نشو، چې د اپخپله د هاغه وخت د دود او رسم مخالف کار وو، او دا ډېرې کړنې د همدغې ښځې په توسه وې چې هغه یې تر آغېز لاندې وو. نو، مېړه یې اوربلوونکی دی او د دښمنۍ اور ته لمن وهي او د اور شعلې، غرغنډې او لمبې ګړندی کوي، او ښځه یې هم د جګړې د اور بلولو لپاره پیلوځه او خسبه ده چې خس او خاشاک او سکروټې راوړي.

نو د ابولهب مېرمن چې د جګړې اور ته د خسو او سون توکو راوړونکې، او د فتنو اصلي پاروونکې او وسوسه ګره وه لکه د محکومې اسیرې او بندۍ په څېر چې یوه تاوه شوې او کلکه رسۍ یې په غاړه کې پرته وي او د هغې په توسه یې د محاکمې لور ته ورکاږي، د یوه تَرُور او ګېوډ خُلق او خوی او د تاوو شوو او ناسمو ګډو وډو لاسته راوړنو څخه د کلکو بندونو یو زندان وو. هغه چې د ښځینه عاطفي فطرت او طبیعت پر خلاف په دا ډول بندو، تړلو او نرینه والو زیږو غوغاو او انګلونو کې یې ګډون کاوه، د اسارت بند یې د مرحوم طالقاني په وینا د «رقبه» او «عنق» پر ځای چې د غاړې اصلي نوم دی، په «جید» کې چې د ښکلا او د غاړکۍ او ګاڼې او د سینګارتوکو د اچولو ځای دی اچول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قرآن دې ښځې ته «حمّالة الحب» وايي. او دا نوم ددې ښځې لپاره ښه اسم با مسمی دی، د ځينو روايتونو له مخې دا ښځه سره له دې چې ښه مالداره او شتمنه وه خو بيا هم خس او اغزي به يې پخپله شا راوړل او د حضرت رسول اکرم(ص) په لاره کې به يې خپرول، نو په واقعي او فزيکي توګه به يې هم تل رسۍ پر غاړه وه او خسبه ګري به يې کوله. همدا راز تل به يې د قريشو تر منځ د دښمنۍ اور بلوه او کومه سخن چيني به يې چې کوله؛ تل به په خوځښت کې وه دلته او هلته، چې يوه تازه خبره کشف کړي يو څه دروغ او درب ورسره ملګري کړي او بيا لاړه شي د قريشو په ناستو او محفلونو کې يې ووايي او قريش وهڅوي او هغوی وپاروي او د قريشو تر منځ د دښمنۍ او خصومت اور ولګوي، او هم دا چې له دې کار سره لکه د هر سخن چين په څېر او د هر هغه چا په څېر چې د انسانانو تر منځ دښمني رامنځته کړي «حمّالةالحطب» او خسبه ده، خسبه توب يې د خپل ځان پر ضد دی؛ چې په دې توسه د خپل ځان پر ضد اور رامنځته کوي، او په جهنم کې به د خپل مېړه سره سمه په اور کې سوځي. لکه څنګه چې د ابولهب لپاره د نوم غوره کول پر هغه له دريو اړخونو د تطبيق وړ وو هم د هغه د شعله ور سور مخ له مخې، چې يوه ټوټه د التهاب او لمبې وو، بل التهاب او لمبه يې د کينې او حسادت پر بنسټ وه، په عين حال کې همدا سړی چې ابولهب وو، په جهنم کې د ډېرو التهابونو او لمبو خاوند د جهنم د ملتهب او غرغنډ اور ښبنتن دی [نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ].

قرآن يوه کليمه غوره کړې چې په يو مهال کې له دريو اړخونو پر هاغه سړي [«عبدالعُزّی نومي»] رښتيني او صادقه ده. همدا راز د «حمّالة الحطب» کليمه يې چې د هغه د ښځې لپاره يې غوره کړې ده چې بيا هم له دريو اړخونو ددې ښځې په اړه رښتيني ده. د معنا د بلاغت څرګندوالی همدا دی چې لنډې او مختصرې کليمې وي خو ژورې، له معنا ډکې او نه هيرېدونکې وي؛ په يو مهال کې بې شمېره معنا ګانې په ذهنونو کې ژوندۍ کړي چې هغه ټولې معناګانې ددې کليمو په اړه رښتيني او صادقې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ. فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ. دا خسبه؛ په داسې حال کې چې له تاوو شوو مزو څخه جوړه شوې رسۍ يې په غاړه اچول شوې ده. في جيدها، مقدم خبر، د محدودونې ښکارندوی، حبل د وروسته لپاره مبتداء، او په جمله کې د امرأته لپاره خبر يا حال دی.

«جِيدِ» د ښځو د ټېر پورتنۍ برخې ته ويل کېږي چې له غاړې سره نښتې ده، او غاړکۍ پرې ځای نيسي. د شهيدانو د سرلاري خبره ده چې وايي: «خُطَّ الموتُ على وُلدِ آدَمَ مَخطَّ القِلادَةَ عَلى جِيد الفَتاهِ» [د حق په لاره کې] مرګ سړيو ته لکه د پيغلو پر غاړو د غاړکيو په څېر ښکلی او ګاڼلی دی. په عربي ژبه کې نورې کليمې هم لکه رَقَبه او عُنُق شتون لري چې د غاړې لپاره نور ويونه او مفهومونه دي؛ «فَكُّ رَقَبَةٍ» بلد۱۳(۹۰:۱۳)، «وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ ...وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ... وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ...» [نساء۹۲(۴:۹۲)]، «وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ...» [اسراء۲۹(۱۷:۲۹)].

«مَسَدٍ» چې د دې سورة له نومونو څخه يو نوم دی او ښايي ډېر مشهور نوم له ټولو همدا دی، د هاغو رښتو او تارونو پر غښتل کېدو، تاوېدلو او اوبدل کېدلو دلالت کوي چې د وړيو او پنبې د تارونو او رښتو په اوبدون او جوړښت کې [د سپينسيو تاوولو او نسّاجۍ په صنعت کې] او هم د خرمنې او د کجورو د پاڼو د رښتو او تارونو په اوبدون او جوړښت کې څرګند دي.

د انسانانو لاسته راوړنې هم د ژوند په اوږدو کې په تدريج اوبدل کېږي او يو پر بل اېښوول کېږي او مجازاً د هغه د سرليک د غاړې چوپړوال او اړک ګرځي: «وَكُلَّ إِنْسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَائِرَهُ فِي عُنُقِهِ ...» [اسراء۱۳(۱۷:۱۳)]. او موږ د هر انسان سرليک هغوی ته د هغوی په خپله غاړه کې اچولی دی. آيا په «فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ» کې د ابولهب د ماندينې هاغه سرليک نه ليدل کېږي، چې پخپله يې جوړ کړی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا تمثيل او تشبيه د يوې داسې ښځې مسخ شوی انځور څرګندوي چې د مرواريدو د غاړکۍ پر ځای يې، د خسو او خځلو د لېږدولو لپاره پېړ پړی پر غاړه اچولی دی! که لومړنی د فطري ښکلا نښه ده، دويمی د بارکشۍ او د نفس د اسارت نښه ده. ومو ويل چې: **جيد** د سينګار او غاړکۍ د ځای څرګندوی دی، او دا لفظ د «عنق – رقبه» پر ځای چې د غاړې ښکارندوی دی، راغلی دی؛ دا ښځه چې بايد ځان سينګار کړي او د ښکلا او لطافت نمونه اوسي، داسې مسخ شوې او بل شان شوې ده چې د فتنه ګر او بارکښ حيوان په بڼه اووښتې ده چې د خسو او خشاکو د لېږد پېړه رسۍ يې په غاړه کې اچولې ده. يعنې د ابولهب د ښځې په غاړه کې يو «حَبل» دی. «حَبل» يعنې رسۍ او «مَسَد» هم د خرما پاڼې او پاڅې دي چې يو څه ستغوالی او سختې هم لري. او «جِيد» هم چې د ښځو د ټټر پاسنۍ برخې ته وايي چې بايد ګاڼه او د سينګار توکي پرې پراته وي؛ نو مطلب ترې غاړه نه ده، ځکه چې لکه څنګه مو چې وويل غاړې ته «عُنُق» يا «رَقَبه» وايي.

دا چې ځينو ويلي مطلب يې دادی چې په قيامت کې ورته په غاړه کې رسۍ اچوي، له دې لامله چې هغوی جيد لکه د عنق يا رقبه په څېر غاړه ګڼلې حال دا چې جيد د غاړکۍ او سنګارتوکو د ستون لپاره کارول شوی دی.

قرآنکريم فرمايي: دا خسبه په داسې حال کې چې هاغه رسۍ يې چې د مسد له جنسه ده، پر غاړه پرته ده. خسبانه به مو ليدلي وي چې کله غواړي کوم بار پر خپلو اوږو يوسي هرو هرو به يې پر خپلې شا تړي او په اصطلاح له دې خوا او اخوا يې پر خپله سينه تړي. دلته د «جيد» کليمه راغلې ده؛ سره ددې چې عربان د غاړې لپاره د «عنق» کليمه کاروي. خو «جيد» په ځانګړو اړوندونو کې کارول کېږي. مثلاً که وغواړي چې ووايي يوه رسۍ يې يو چاته په غاړه کې اچولې او هغه په کښولو بيايي، دلته «عنق» کارول کېږي. قرآن هم په دا راز اړوندونو کې د «عنق» کليمه کارولې ده: «... فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ »

(c) ketabton.com: The Digital Library


[شعراء ۴(۲٦:۴)] ددوی غاړې متواضعانه او د خاکسارۍ په دود ټيټې دي. «إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا...» [يس۸ (۳٦:۸)] نه وايي «في جيدِهِمْ»، وايي ددوی په غُنقونو کې مو زنځيرونه اچولي دي.

خو د «جيد» کليمه په هاغه ځای کې کارول کېږي چې غاړه له دې کبله چې د ښکلا ځای دی ذکر شي. کله چې غواړي ووايي غاړکۍ يې د ښځې په غاړه کې واچوله دلته د «جيد» کليمه کاروي او داسې بريښي چې د «جَيِّد» لـه بيخـه د نېک او ښکلي په معنا وي. غاړه د ښځې لپاره د زينت او سېنګار ځای دی. قرآن دلته غواړي ددې ښځې وضعه او حالت مجسم کړي؛ دا چې د «جيد» کليمه يې راوړې، غـواړي ووايـي چـې ښـځه چـې ښـايي د ښـکلا او ښـځينه احساسـاتو ښکارندوی وي، ددې ښځې د ښځينه نرم او لطيـف طبيعـت پـر خـلاف، زيـږ او خشن طبيعت يې په وجود کې غلبه لرله او د رقيقو او لطيفو عاطفو او احساسـاتو پر ځای، خشن او دښمنانه حالت پکې شتون لري. په اصـطلاح، «جيـد»، چـې د هغې په وجود کې بايد د سينګار او ګـاڼې ځـای وي، چـې پـه واقعيـت هماغـه ښځينه مهر او عاطفه ده، ددې پر ځای، په هغه کې خشن او سوراوريز احساسات او د کينې او نفرت شرارې او اوربخرکې دي.

پاملرنه وکړئ، د حضـرت موسی(ع) په داستان کـې، کلـه چـې مـور يـې هغـه پـه پېټۍ کې واچوه او د نيـل رود تـه يـې وسـپاره او صـندوق د فرعـون مـاڼۍ تـه داخل شو، نقل کوي؛ کوم مهال چې درباريان صندوق له اوبو څخـه رانيسي ـ او پوهېږي چې په صندوق کې کوچنی له قبطيانو څخه نه دی او له بنـي اسرائيلـو څخه دی، هغوی غوښتل چې ويې وژني، چون پوهېدل هغه يې له مرګ څخه د ژغورنې لپاره اوبو ته ورکړی دی، د فرعون ښځه يې مخنيوی کـوي او راځـي وورکی په خپلې غېږ کې اخلي او فرعون ته وايي چې، د هغه د وژلو پـر ځـای، هغه به په زوېتوب ونيسو، ښايي دا زموږ په ګټه وي، چې قصه يې مفصله په قرآن کې راغلې ده. يعنې د ښځې لومړی مخامخ کېدل له احساسي او عاطفي جنبې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره دي او ښځه نشې کولی له خشونت او سختۍ سره سلوک او چلند وکړي. وروسته يې، مفصله شرحه ورکړې ده چې د فرعون د مېرمنې عاطفه او احساس داسې غلبه کوي چې فرعون د بل هيڅا خبره نه مني، د درباريانو خبره ردوي او موسی د فرعون لخوا په زويتوب نيول کېږي.

دا څرګندوي چې ښځه سپېڅلی او انساني وجدان، دَرُونَهْ او ذات او له مينې او محبته ډک احساس لري. نو، هاغه ښځه چې، ددې پرعکس، په دننه کې يې تاوتريخوالی، خشم، دښمني، کينه او عداوت دی، احساسات يې داسې سخت او خشن لکه د خرما د ونې د پوټکي د پاړو په څېر دي او له دننۍ ښکلا تش دي او ښکلا يې په بده بڼه بدله شوې ده. وجود يې داسې مسخه شوی دی چې د زينت او ښکلا پر ځای د بدۍ زښتوالی او ستغوالی برېښوي.

لکه څنګه چې وويل شول دا په قرآن کې د ابولهب د ښځې انځور شوې بڼه ده، او په حقيقت کې ددې دواړو انسانانو شخصيتونه څرګندوي چې څه ډول د ابولهب د حسد اور او د هغه د مېرمنې د دښمنيو اوربلونې هر دواړه نشت کړل.

موږ پوهېږو چې په قرآن کريم کې له مشرکينو او منافقينو څخه د هيڅ کوم وګړي د نوم ذکر نه دی شوی، ځکه د بندګانو شرک او عصيان، پالونکي ښتن ته کوم ضرر نه لري، او الله تعالی د غچ او کسات په لټه کې نه دی، او هم دا چې په کتاب کې د اشخاصو د نوم ذکرول تلپاتې ټوليز ګټور قانون نه دی. خو په ځانګړې توګه د ابولهب نوم ذکر شوی هغه هم د «عبدالعزی» په اصلي نوم نه بلکې د هغه کنيه ذکر شوې ده، او ورسره د هغه د ښځې ذکرول د ځينو لاملونو له امله دي، چې په لاندې توګه ورته نغوته کوو:

۱ ـ چون د ابولهب ضرر له بل هر کافر او مشرک څخه زياتتر او د رسول الله(ص) په ځور او آزار کې د مشرکينو د جرأت او زړه ورتيا لامل کېده، او د هغه له دې شر سره الله تعالی پوهېده چې هغه د کفر په حالت کې له دنيا ځي، ځکه يې خبر ورکړی او دا پخپله يوه معجزه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲ ـ د هغه ذکر ددې لپاره دی چې د نړۍ خلک پر دې پوه شي چې د الله رسول (ص) له الله (ج) پرته کوم بل مرستيال او ياور نه درلود او د هغه تبليغ او بلنه تحميلي او پر نورو په زور او زبردستۍ د منلو توکي او وسايل نه درلودل.

۳ ـ خلک بايد پوه شي چې ټبر، نسب او اصل په درد نه لګي. د جزاء د قانون پر وړاندې هاشمي ښاغلی له حبشي غلام سره توپير نلري او هسې دې خلک د غټانو او سترو کسانو پر نامه او له هغوی سره د نسبت او خپلوۍ له کبله مغرور نشي او ښايي ووايو د هغه ښځه د فساد او چغلګرۍ د خسو او خځلو خسبه وه، او د حضرت رسول اکرم پر لار به يې خس او خاشاک او اغزي شېندل.

سره له دې چې ددې سورة د آيتونو ظاهر، د مشخصو او مشهورو نر او ښځې په اړه، او پر هغوی پورې محدود او اړوند برېښي، خو کومې اشارې او تعبيرونه چې په دې آيتونو کې راغلي دي نامحدودې او عمومي دي او د هر داسې سړي او ښځې شوم عاقبت، پايلې او صفتونه څرګندوي چې د حق او خير د بلنې پر وړاندې اورلګاندي او فتنه اچونه کوي. دا آيتونه د هر مهال لپاره دي او د هر مهال د داسې اشخاصو له تحقير او غندنې کنايه ده. دا سرليک نه يوازې د ابولهب او امّ جميل لپاره دی او بس، بلکې هر څوک چې له قرآن سره مخالف وي او په نړۍ کې د هغه د احکامو له دود او برلاسۍ مخنيوی وکړي، په دوزخ کې به له هغوی سره نژدې او همدم وي.

او په هره زمانه او هر راز شرايطو کې که څېنو خلکو د ليد له يووالي سره، حق او خير ومونډ او د هغه د پرمختګ لپاره وفادار او ټيکاو پاتې شي، هرومرو به يې د حق او خير وړانګې خپرې شي او پليونان به يې بريالي کېږي او خلک به پوځ پوځ هغه ته مخه کړي «إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ....» او د دسيسه کارانو او ټګو برګو اورلګاندو او د هغو ښځونکانو لاسونه او نفسونه پرې کېږي چې د هغوی لپاره د فتنې د اور د خسو او خاشاکو راوړونکي، ګوډاګيان او د لاس آله

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوې دي او له تور او مسخ شوي مخ سره بـه د خپلـو عملونـو او کړنـو پـه دوزخ کې لویږي: تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ... سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ...

ګواکې د همدغه تناسب، لامل او علیت له لیده دا سورة په قرآن کې د نصر لـه سورته وروسته ځای پر ځای شوی دی، سره ددې چې د تبت سـورة مکـي دی او د نصر سورة کلونه وروسته له هغه په مدینه کې نازل شوی دی.

ددې سورة اړیکه مو له مخکیني سورة سره توضیح کړې ده او و مو ویل چې دا څلور سورتونه چې په هغې کې پیغمبر ته د ویلـو فرمـان ورکـړل شـوی دی، پـه دې معنا دی چې د خپل پالونکي څښتن ربوبیت خپل نفس ته تلقین کړي.

دا دوه سورتونه [نصر او مسد]، په لنډه توګه، دوه مختلف سرلیکونـه څرګنـدوي: د هاغو کسانو سرلیک چې د الهي نصرت په توسه بریالي شول او، په مقابل کې، د هاغو کسانو سرلیک چې هڅې یې بې پـبرې او بـې پـایلې پـاتې شـوې، پـرې شولې او ونغځېدلې، او د هغه ګرد کوښښونه چې د حق په پټولو کې یـې سر تـه رسول ناکام شول او همدا راز د خلکو په څورولو کې یې ټولې کړنې ابته شولې او د هغه سرداری، مشرتوب او لویي د تل لپاره د هغه لاسه ووتلې، ټولې چـارې یې بېکاره شوې، غرور یې مات شو او لـه ځـواک او زوره ولوېـد او د تبـاهی پـه کنده کې د تل لپاره پرېوت.

پالونکی څښتنه! زموږ زړه له هر ډول ځیل، لجاجت، آغوږ او هوډه کولو وساته.

لویه خدایه! موږ ټول د خپلو چارو له پایلو په ډار کې یو، ته مـوږ تـه امنیـت او سوکالي راوبښه! او زموږ د چارو پایله په خیر کړې! وَ اجْعَلْ عاقِبَةَ أَمْرِنا خَيْراً.

یا الهي! موږ پوهېږو په هاغه ستر نباوتون کې نه مال او شتمني او نـه د خپلـوی اړیکې هیڅ یو کومه ګټه نه رسوي، یوازې ستا لطف او لورونې چار سموي، موږ په خپلو لُطفونو او لَوْرَونُو کې شامل کړه! آمین

صدق الله العليّ العظيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


---

**یادونه:** ددې تشریح د لیکلو پر مهال لاندینیو سرچینو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان لیکنه

۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري لیکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سید قطب لیکنه

۴ ـ تفهیم القرآن ـ د مولانا سید ابوالاعلی مودودي لیکنه

۵ ـ تدبر قرآن ـ د مولانا امین احسن اصلاحي لیکنه

٦ ـ قرآن حکیم [ترجمه و توضیحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان

۷ ـ المیزان في تفسیرالقرآن ـ د سید محمدحسین طباطبائي لیکنه

۸ ـ کابلي تفسیر [قرآن کریم ترجمه او تفسیر ـ مولانا محمود الحسن دیوبندي او علامه شبیراحمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو یوه ډله

۹ ـ پرتوی از قرآن ـ د سید محمود طالقاني لیکنه

۱۰ ـ تفسیر نمونه ـ د آیت الله مکارم شیرازي او د ورسره علماو د پلاوي لیکنه

۱۱ ـ تفسیر نور ـ د مصطفی خرمدل لیکنه

۱۲ ـ تابشي از قرآن ـ د سید ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي لیکنه

۱۳ ـ تفسیر باران ـ د دوکتور مهدي خُدّامیان آراني لیکنه

۱۴ ـ ترجمه تفسیر طبري ـ د حبیب یغمائی په اهتمام او تصحیح

۱۵ ـ تفسیر ابن کثیر [حافظ عمادالدین ابوالفدا اسمعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

۱٦ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفیع لیکنه

۱۷ ـ تفسیر مصباحین (اردو) ترجمه و شرح تفسیر جلالین ـ لیکونکي : جلال الدین محلي او جلال الدین سیوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لیاقت علي رضوي

۱۸ ـ تفسیر کمالین د جلالین تفسیر اردو شرح د : مولانا محمد نعیم دیوبندی

۱۹ ـ د قرآن عظیم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قیام الدین کشاف

۲۰ ـ عزیزالتفاسیر ـ د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر ـ مولوي سلطان عزیز (عزیز)

۲۱ ـ صفوة‌التفاسیر ـ د محمدعلي الصابوني لیکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده

۲۲ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدین حکمتیار لیکنه

۲۳ ـ تفسیر دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه

۲۴ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امین الله پېښاوری لیکنه

۲۵ ـ تفسیر ایوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبیدالله ایوبي لیکنه

۲٦ ـ تفسیر احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۷ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه

۲۸ـ شرحې بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرگان ـ د عبدالعلي بازرگان وېب پاڼه [bazargan.com]

۲۹ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.

۳۰ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز

۳۱ ـ روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی ـ العلامه ابی الفضل شهاب الدين محمودالالوسی البغدادي

۳۲ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي

۳۳ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقی البروسوی

۳۴ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان» ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي

۳۵ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري

۳٦ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي

۳۷ ـ تفسير الفخرالرّازی المشهور بالتفسيرالکبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازی فخرالدين

۳۸ ـ التّفسيرالمبين ـ دوکتور عبد الرحمن بن حسن النّفيسه

۳۹ ـ تفسير قرطبی ـ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد کرم شاه

۴۰ ـ المفصل في تفسيرالقرآن الکريم ـ المشهور بتفسيرالجلالين ـ للامام جلال الدّين المحليّ والامَام جلال الدِّين السّيُوطيّ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**